افساني

# پردي حق

محمد الياس



بِسۡمِ

# پردے حق

افسانوي مجموعه

محمد الياس

د کتاب ټول حقوق د لیکوال په حق کښې خوندي دي

د کتاب نوم: پردے حق (افسانې)
لیکوال: محمد الیاس
پېښه: جهاز راني
تعلیم: ماسټرمیرینر
استوګنه: طوطه کان ملاکنډ
کمپوزنګ : وقارمحمدوقار(ملاکنډ) +923181928558
کره کتنه: حُجت الله خان (ایم فِل سکالر ملاکنډ پوهنتون)
وړومبے چاپ: مئ ۲۰۲۵ء
شمېر: ۵۰۰
شکرانه: ۳۰۰ روپۍ
چاپ ځائے: امن خپرندویه ټولنه چارسده
خوروونکے:
ادب پال ملګري خیبر پښتونخوا (پاکستان)
(سلسله ۸)
د کتاب د موندلو درکونه
- نثري مرکه ملاکنډ
- ادب پال ملګري خیبر پښتونخوا (پاکستان)
- اواز ملاکنډ

# ترون

د ګران ملګري او د پښتو ژبې استاد

**پروفیسر ډاکټر شېر زمان سیماب**

په نوم، چا چې د پښتو ژبې او پښتو ادب د پرمختګ د پاره
په نظم او نثر دواړو کښې د ملاکنډ د ادب خېزي خاوري
نمائیندګي کړې ده

محمد الیاس

# ډالۍ

د تنظیم "ادب پال ملګري خیبر پښتونخوا (پاکستان)"

باني او وړومبي صدر وقارمحمدوقار

او د تنظیم ټولو غړو ته د پښتو ژبې د خدمت د پاره

د ډالۍ په توګه

محمد الیاس

# لیکلړ

| | | |
|---|---|---|
| 1 | پردے حق او vادب پال ملګري تحریک | 8 |
| 2 | د حقیقت افسانوي رنګونه | 15 |
| 3 | د محمدالیاس افسانه | 25 |
| 4 | خپلې خبرې | 27 |
| 5 | اېکس کروموسوم | 30 |
| .6 | ورورولي | 35 |
| 6 | کرکه | 41 |
| 8 | توغکے | 46 |
| 9 | پردے حق | 51 |
| 10 | بېلتون | 55 |
| 11 | بدل | 59 |
| 12 | د شهادت ارمان | 64 |
| 13 | وقف کېدل | 69 |
| 14 | ناشُکري | 70 |
| 15 | غفور او رحیم | 71 |
| 16 | عمره | 73 |
| 17 | اېموشنل بلېک مېلنګ | 78 |

| | | |
|---|---|---|
| 18 | اسماني رشتي | 80 |
| 19 | خلاصون | 87 |
| 20 | فېصله | 92 |
| 21 | منافقت | 96 |
| 22 | نوے کور | 100 |
| 23 | باور | 107 |
| 24 | پېغور | 114 |
| 25 | وراثت | 124 |
| 26 | عاق | 125 |
| 27 | د ليکوال نور چاپ او ناچاپ اثار | 135 |

# پردے حق او ادب پال ملګري تحريک

څۀ موده مخکښې چې کله د موبائل وجود نۀ وۀ او تې وي هم دومره عام نۀ وۀ چرته د کلي په يوه مالداره کورنۍ کښې به تې وي موجود وۀ خو هغوي به هم کور ته ماشومان نۀ پرېښودل نو دغه وخت يو کار دوه ځايه ډېر عام وۀ يو به کورونو کښې نياګانو نمسا نمسيو ته د عبرت او د خوند مزې قصې کولې او بل به بهر حجره کښې مشرانو تاجرانو او مسافرو د ماسخوتن په وخت اکثر د خپلو تېرو شوو مشرانو د باتُورۍ همدردۍ ورورولۍ د سفر د تکليفونو او بهر وطنونو ناشنا ناشنا قصې کولې يا به مېلسيانو رباب منګي سره په ټپو چاربېتو او داستانونو کښې د باچايانو پېغمبرانو او تکړه خلکو واقعات بيانول . دې دواړو ځايونو کښې به ناستې ډېره مزه کوله نمسو به اکثر نياګانو ته د ماسخوتنې منتونه او زارۍ کولې چې مونږ ته خامخا څۀ ووائي او حجرو کښې به ځوانانو دا ضد کولو چې نن راته يو نه يو مشر څۀ قصه واقعه بيان کړي، ماته اوس هم ياد دي مونږ ته به نيا د پېريانو، دېوانو، بلا ، شيشکې او د خپلو پلارانو نيکونو د

ځوانۍ د کلي کندي د مشرانو د مړاني او باتُورۍ قصې کولې او دغسې مېره حجرو بېټکونو کښې هم د مشرانو نه بلها قسمه حقيقي او فرضي واقعات او قصې اورېدلې دي د دغې دور يو خپل او منفرد خوند او رنګ وۀ دا زمونږ د وړوکوالي ياخۀ نقشونه دي چې نۀ هېرېدونکې دي، بيا ورو ورو ټي وي عام شو . ما ته اوس هم ياد شي دا به د کال ۱۹۹۲ء يا ۹۷ خبره وي دغه وخت به په ټي وي د هر اتوار په شپه رېسلنګ ( پهلواني ) ښودلې شوه زمونږ په ټول کلي کښې يو کور کره ټي وي وۀ هغوي کره به مونږ ټول واړۀ د اتوار په شپه د ماسخوتن په وخت راټوليدو او دغه پهلوانۍ نه به مو خوندونه اخستل په مونږ به اکثر د شپې ناوخته شو نو داجي به راته غصه وۀ خو مونږ نۀ صبرېدو نو مور مې نيکۀ يعنې هغې خپل پلار ته د دې شخړې د حل لپاره ووئيل هغۀ بله ورځ وړوکے شان ساده ټي وي مونږ له راوړو دغسې مونږ د پردي کور د ناوخته ناستې نه خو منع شو خپل کور کښې راته د ټي وي سهولت راغے خو يو غټ زيان يې دا راکړو چې يو خوا نيا بې بې سره او بل خوا حجره کښې ماسخوتن د مشرانو سره ناسته يې هم رانه اوترووړله او بيا چې څۀ وخت پس موبائل راغے نو دې سره هغه لږ ډېر پاتې کمے هم پوره شو .

د دې دومره اوږد پس منظر ليکلو مطلب مې دا دے چې يو انسان په فطرتي توګه د قصې اوريدو شوق لري ځکه چې د انسان زېږون ځان له يوه قصه ده او دغه سلسله لا جاري ده خو وخت په وخت يې شکلونه بدليږي رابدليږي دغې قصو ليکلو او اورولو کښې مختلف تجربې او مشاهدې وشوې چا داستانونه اوليکل، چا قصيدې، چا ترې ډرامه، ناول او افسانه جوړه کړه په جديد دور کښې د قصيئز ادب درې غټ قسمونه مونږ سره لا شتون لري يوه ډرامه بل ناول او بله افسانه چې دا خلکو ته مختلف واقعات او قصې د رسولو او په هغې د پوهه کولو اساني پُرکشش او مؤثر ذريعې دي هر څو کۀ اوس په جديد دور کښې ماشومانو کښې د قصې اوريدو يا د کتاب کتلو شوق نشته يا وخت نۀ لري خو مياندو او نياګانو سره هم قصې او واقعات نشته په هغه دور خاورې واوړېدې خو دا شکر دے چې د هغې يوه بله نمونه راسره د افسانې په شکل اوس هم شته چې خلکو ته په مؤثره او لږ وخت کښې ډېر ښکلې ښکلې واقعات او قصې اورسي او خوندې هم پاتې شي .

پردے حق هم د دغې زنځیر یوه کړۍ ده . محمد الیاس صیب خپل پوره کوشش کړے چې د دغې روایت حق ادا کړي ما یې د خپلې نا اوزګارتیا له کبله افسانې ټولې اونهٔ لوستې شوې خو چې تر کومه مې اولوستې نو زهٔ ترې مطمئین شوم،ډېرې جانداري افسانې دي ناشنا موضوعاتو باندې اډانهه لري دا به پښتو ادب ته ډېره ګټوره او سودمنه اضافه وي په دې افسانو کښې د معاشرې ډېر اهم او نازک موضوعات چېړلي شوې دي دا به لوستونکو ته د لوستلو نه وروسته اندازه اوشي، تفصیلي جائزه بې ډاکټر شېرزمان سیماب صیب اخستې ده زهٔ ئې نور وضاحت ضروري نهٔ ګنړم خو دعا ضرور کوم چې د محمد الیاس صیب دا کړاو او زیار رنګ راوړي پښتانهٔ یې اوګوري او دا کتاب خوښ کړي .

## ادب پال ملګري خیبرپښتونخوا تحریک

انسان چې د کله نه دنیا ته راغلے دے او بیا یې وخت سره سره خومره زده کړه کړې ده نو وخت په وخت یې ځان ته اسانتیاګانې پیدا کړې دي او لا اوس هم لګیا دے وخت په

وخت نورې نورې تجربې کوي هر کار کښې اسانه او لنډه لار لټوي بعضې وخت يوه ټولنه کښې هر څوک د سيالۍ ژوند ژواک نۀ شي کولې نو په دغه ټولنه کښې څو تنه داسې راپاڅي او يو تنظيم راجوړ کړي چې ډېر بې وسه او بې څوکه پکښې شتۀ شي د خپلولۍ احساس ورته اوشي د ژوند رنګ د سوکالۍ هيلې او د مړې خېټې خوبونه اووينې هم دغسې يوه هڅه يو زيار مونږ څو ادبي ملګرو هم شورو کړے دے يو تنظيم مو د ادب پال ملګري خيبر پښتونخوا په نوم راجوړ کړے بلکه تحريک مو شورو کړے دے د دغې تنظيم کار دا دے چې هر دوه مياشتې پس خسنے اچوي يعنې قرعه اندازي کوي په دغه تنظيم کښې سلو ته نېزدې ملګري دي پينځۀ سوه روپۍ کس راټولوي او چې خسنې کښې د کوم ليکوال او شاعر نوم راوخېژي نو تنظيم د هغۀ کتاب چاپ کوي خو کۀ دا ملګري سبوا شو يعنې دوه سوه شوو نو دا خرچه به في کس دوه نيم سوه روپۍ شي دغسې چې څومره کسان سبوا شي نو خرچه به نوره هم کمېږي ګټه يې دا ده چې تر ننه کوم ليکوالان د خپل کتاب د چاپ نه مايوسه شوې وو او دا سوچ يې هم

پرېښي وۀ هغوي ته زېرے دے مونږ هغوي له امید پېدا کړو چې ادب پال ملګري تحریک اوس هر لیکوال د کتاب مالک او د چاپ مستحق ګرځولې شي راځئ مونږ سره دې تحریک کښې برخه واخلئ، الحمدالله دا کتاب " پردے حق " د دغه سلسلې اتمه کړۍ ده یعني دا اتم کتاب دے چې ادب پال ملګري تحریک یې په څوارلسو میاشتو کښې چاپ کوي .

د تنظیم اصول مختصر داسې دي چې هر هغه ملګرے چې د دغه تنظیم غړے وي او مونږ سره مستقل چندې جمع کوي هغه په قرعه اندازۍ کښې برخه اخستې شي کۀ څوک خپل کتاب چاپ کول غواړي لا ښۀ ګڼي مونږ سره اکثریت ملګري داسې هم دي چې خالص د الله پاک د رضا لپاره چندې جمع کوي په دې غرض چې د نورو خلکو کتابونه چاپ شي او د تنظیم نه نور هېڅ غرض، مقصد او طمع نۀ لري مونږ له هم دغسې ذوق لرونکي پښتانۀ پکار دي، د دے تنظیم خپل ائین او قانون هم دے د کتاب د چاپ لپاره یې یو سل شپېتۀ صفحې، اتۀ شپېتۀ ګرامه کاغذ ، کارډ او د کاپیو درې سوه تعداد مقرر کړے دے دېرش کاپۍ د تنظیم په دفتر کښې د

رېکارډ لپاره خوندي کولې شي دا اختيار تنظيم سره وي چې دغه دېرش کاپۍ مختلفو عوامي او سرکاري کتابتونو کښې هم ږدي او باقي پاتې دوه سوه اويا کاپۍ د ليکوال ملکيت ګرځولې شي . کوم ليکوال او ذوق لرونکي کۀ دې تنظيم کښې برخه اخستل غواړي يا نور معلومات غواړي نو مونږ ورته هرکلے وايو زمونږ دروازې ورته پرانستې دي مونږ هم ستاسو په انتظار يو راشئ زمونږ سره مرسته اوکړئ، زمونږ متې مضبوطې کړئ، د پښتو ژبې او ادب خدمت اوکړئ .

په ډېر درنښت

حساس محمدزے اشنغر

**کابينه: ادب پال ملګري خيبر پښتونخوا (پاکستان)**

| | |
|---|---|
| سرپرست : | لياقت تصور |
| صدر : | سيد قيصر علي شاه کاکاخېل |
| چېرمېن (مجلس عامله): | وقار محمد وقار |
| ستر سکتر : | صادق امن زے |
| مالياتي سېکتر: | حساس محمدزے |
| سوشل مېډيا سکتر: | ظريف خان صوابيوال |

# د حقیقت افسانوي رنګونه

قیصه د انسان سره د ابتدا نه راروانه ده د انسان هر عمل او هر قدم یوه قیصه زېږوي او دا وخت چې انسان د زرګونو کلونو د اوږد سفر نه پس په یو ترقیافته معاشره کښې سا اخلي نو د خپل ماضي سره د حال په لمن کښې هم د قصو ډېرې قیصې لري او د حال چې کومه ورځ تیرېږي نو د ماضي برخه کیږي.ولې یوه قیصه هم زېږوي.

قیصه چې څنګ د انسان همسفر ده نو داسې انسان په قیصه ژوندے هم دے او یا به داسې هم ووایو چې قیصه په انسان ژوندۍ ده.او کۀ داسې ووایو چې انسان او قیصې دواړه په یو بل ژوندي دي نو لا به بهتره وي.په دې کچې د قیصې د پاره یو کردار وي بلکې ضروري نو انسان د دې قیصې بهترین کردار دے.

کله چې انسان روایتي او یا په خپل محدود ماحول کښې ژوند کوۀ نو قیصه هم په دغه رنګ د دۀ ترجمانه وه.ولې

چې کله چې انسان د ارتقاء لار ونیوه نو قیصې ورسره هم د دغه سفر پېزار په پښو کړل او چې انسان څنګ په خپل ژوند کښې د فن او هنر د نیلي سورلۍ ته ځان جوړ کړو نو قیصې ورسره هم د تکنیک د براق قیزه ونیوه.

داستان، ناول، ډرامه، افسانه دا ټول (قیصئیز ادب) د دغه براق د سر شوې دي او زمونږ ادبي جهان پرې منور دے.د پښتو ادب په دې منور جهان کښې د قیصئیز ادب دغه څلور واړه هیئتونه خپل موجودیت لري او تر دې دمه پکښې زړه پورې کار هم شوے دے.داستانونه زمونږ په اولسي ادب کښې دومره شهرت لري چې پخوا به په حجرو کښې په شپو شپو وئیلې کېدل او ډېرې برخې به ئې اورېدونکو ته په یادو یادې وې.داسې په شلمه صدۍ کښې افسانه، ډرامه او ناول هم بالترتیب زمونږ د پښتو ادب د ناوې سینګار اوګرځېدل.چې تر دې دمه په دغه مېدان کښې ډېر قلمکاران د خپلو هنري رنګونو سره د دغه درېواړو توکو (هیئتونو) سر د ادب هسکه شمله ګرځوي.

په دې درې واړو صنفونو کښې افسانه داسې صنف دے چې په خلاص مټ پکښې کار شوے دے او د پښتو افسانې څولۍ د پښتو افسانه نګارو د ډېرو بېش بها ملغلرو نه ډکه کړې ده چې پکښې د ژوند بېلا بېلې پېښې واقعات واردات او زړۀ پورې حقائق په افسانوي بڼه وړاندې شوي دي.وئيلې شي چې په تاريخ کښې کردارونه رښتيا وي او واقعات دروغ وي ولې په افسانه کښې په فرضي کردارونو کښې رښتينې واقعات قلمبند کېږي.

افسانه په بنيادي توګه يوه قيصه وي ولې په تکنيکي جوړ دا يوه قيصه په داسې انداز کښې تحرير کېږي چې د يو فني صنف په توګه ځانګړتيا مومي او دغه تکنيک کۀ يو خوا د افسانې فن ته انفراديت بخښي نو بل خوا د لوستونکي کردارونه، تهيم، تجسس، منظرکشي، اغاز، انجام وغېره د افسانې په چوکاټ کښې هغۀ توکي دي چې د افسانې پېژندګلي کوي.اوس سوال دا پېدا کيږي چې يوه ساده قيصه يا يوه واقعه بيانول دا دومره فني بوج د څۀ د پاره په اوږو واخلي نو په دې لړ کښې هغه تېره شوې خبره تکرارولے شي

چې څنګه د فکري ارتقاء سفر روان دے نو داسې د فني ارتقاء سفر هم پرمختګ کوي.چې څۀ د فني ښکلا ضرورت وي او څۀ د یو صنف داخلي احتیاج.چونکې د ناول طوالت د لیکوالو په نظر کښې وۀ نو افسانه ئې په تکنیکي طور د احتصار په کالو د ښائسته کولو د پاره د دې فني غوښتنو ضرورت محسوس کړو او دغه تجربې ئې اوکړې چې کامیابې شوې (تر دې دمه تجربې مقصد دے).بل مهم ضرورت د افسانې لیکوال ته دا مخې ته وۀ چې په ناول کښې ټول ژوند احاطه کېدو یا یوه اوږده قیصه ئې د ناول په فني بڼه وړاندې کوله ولې هغه وړې واقعې او پېښې چې په عام روزه ژوند کښې ورسره حضرت انسان مخ کېږي هم د دې متقاضي وۀ چې په تحریر کښې دې راشي.نو ځکه مونږ وئیلې شو چې په فني و فکري توګه دغه تقاضه وه چې افسانه دې وجود اومومي.

په پښتو ادب کښې د "کونډې جینۍ" نه تر دې افسانوي مجموعې پورې زرګونو افسانې د لیکوالو د قلمه اووتې او څنګ چې دا شمېره زیاته ده داسې په دې کښې د

موضوعاتو یو قلموني او فرواني هم موجوده ده په دې افسانو کښې زمونږ د کلي اولس نه واخله تر نړیوالو موضوعاتو پورې ځاے شوي دي.او په دې مونږ د پښتو افسانې د سلو کالو نه په زیات سفر د اطمینان سا اخستے شو.په دې چې په نړیواله توګه چې کوم فکري ادبي تحریکونه مخې ته راغلي دي نو په شا ئې اداري وي او هغوي د لیکوالو فکري روزنه او پالنه کوله ولې د پښتو لیکوال د للمې د ګلونو غوندې ټوکېدلي دي.خپل ادبي او فکري سمت ئې ټاکلے دے او بیا ئې خپل لیک ته دوام ورکړے دے.

پښتون لیکوال د څۀ جرات په خاطر نۀ بلکې د ژبې او قام د خدمت په غرض ادبیات تخلیق کړي دي.ادبي جرګې او غونډې ئې راجوړې کړي دي، تنقیدي بحثونه ئې کړي دي، مشاعرې ئې کړي دي او دا سلسله تر دې دمه روانه ده . په دې مونږ د پښتنو لیکوالو ته افرین وایو چې هغه نړیوال ادبي فکري مکتبونه او تحریکونه چې هلت ورسره په لوے کچ خوارۍ کېدلې دلته دغه ګُل فکر لیکوالو ئې په خپل مخ سر تا بیا وکړه او زمونږ سره په دغه لړ کښې په خپلو ادبیاتو

کښې څهٔ کمے نهٔ محسوسیږي بلکې زمونږ مشرانو چې کوم پل ایښودے دے نو د کشر کول زلمي لیکوال پرې ښهٔ چاق او ګړندي روان دي.

دا کومه د افسانو مجموعه چې ستاسو په لاس کښې ده دا ښاغلے محمد الیاس هم د دغه لارې مسافر دے چې د خپلې خوږې پښتو خدمت ئې منزل دے اګر چې ګران افسانه نګار په حجاز مقدس کښې د افسرۍ ژوند تېروي ولې د خپل کور کلي او سیند غاړه ئې په زړهٔ وربږي د دغه چاپېرچل بې وسۍ، بې وزلۍ، غمونه، مصیبتونه، تکلیفونه، ستونزې او کشالې ئې په نظر کښې دي.

ښاغلي الیاس د کورنۍ مسائلو نه واخله تر معاشرتي مسائلو پورې په نظر کښې نیولي دي او په افسانوي بڼه ئې وړاندې کړي دي.په زیر نظر مجموعه کښې وړومبۍ افسانه سائنسي ده ولې ښاغلي لیکوال کمال دا کړے دے چې د خپلې معاشرې د مزاح نه ئې په دومره خوندوره طریقه پرده پورته کړې ده چې لوستونکے د دې قائل کړي چې زمونږ دا

معاشره څومره د جهالت په تیارو کښې ډوبه ده او د پاسه پرې غم دا دے چې مونږ دغه جهالت له د پښتو انا او لا نور څۀ څه نومونه ورکوو. یو پروفیسر چې په ایکس X کروموسوم ئې د پي ایچ ډي د کچ ریسرچ کړې وي او دا خبره ئې ثابته کړې وي د نرینه اولاد په پېدائش کښې د پلار د وائي Y کروموسوم داخل وي ولې هم دغه پروفیسر د لور په پېدائش د خپلې کور ودانې نه مرور وي او په کلونو کلونو ورسره خبرې نۀ کوي دا سائنسي موضوع په افسانه کښې راوړل او بیا د خپلې معاشرې د جهالت سره تړل او دغه کچ ذهني رامخې ته کول د لیکوال کمال دے.

په دې افسانو کښې ټوغکے نومے یوه افسانه هم شامله ده چې خبرۍ ترور د خپلې چرګې په مرګ ماتم کوي لیکوال په دې افسانه کښې د انسان د معاشي ژوند او ضرورتونو عکاسي کړې ده او هغۀ پخوانۍ سندره ده چې:

باپ بڑا ہے نہ بھیا

سب سے بڑا روپیہ

دي ته مونږ د ترقي پسند ادب يوه علامتي افسانه وئيلې شو يا د مارکسيزم د معاشي تهيورۍ يا فلسفې په بنياد چې انسان معاشي طور مضبوط وي نو دې به ژوند کوي.د معاشي ستونزو سره انسان د ژوند د نورو هلو ځلو نه بېزاره کيږي.د خېبرۍ ترور د ژوند هم دغه هلې ځلې وي چې په ژړا ژړا کښې ئې بيانوي او وائي چې زۀ به اوس دې سره څۀ کوم.

په پردے حق نومې افسانه کښې سيد عالم حاجي صبب په پردي ډېران په ناحقه قسم خوړلے په دې طمع ناست وي چې زۀ مړ شم نو متاثره سړے ابراهيم خان به مې په جذباتي خفګان کښې اوبخښي ولې ابراهيم خان ترې وړاندې د خاورو ځادر واغوندي.په دې افسانه کښې دغه غلط او ګنده نفسيات په ښۀ پېرايه کښې وړاندې شوي دي.چې يو سړے په ډېران قسم خوري او بيا د خپل مرګ په انتظار ناست وي.او د بخښنانې طمع لري.

داسې د الله په لاره وقف کول افسانه چې په نوم ئې لږ غور پکار دے مشر ورور کشر ورور ته وائي چې د تبليغ نه راشم نو زمکه درته بېلووم او امير صاحب خپل ټول ژوند په تبليغ کښې وقف کړي .

"اسماني رشتې" رشتې افسانه ئې هم د دې معاشرې يوه پېښه يا يوه واقعه مخې ته کوي په تکنيکي طور هم ښه زوروره افسانه ده او اختتام کښې ئې ښاغلے الياس يو پوخ افسانه نګار په نظر راځي.

د ښاغلي محمد الياس ټولې افسانې مقصدي دي او په پس منظر کښې ئې د خپلې معاشرې اصلاح غرض دے.او زۀ ئې د دغه فکري سفر داد ورکوم او په ائينده کښې چې ګران افسانه نګار د خپلې پائې مجموعې سره مخامخ کېږي نو يقيناً چې نور به هم د دوي دغه فني او فکري سفر مخ په وړاندې تلے وي.

د پښتو ادب د پاره عموماً او د ملاکنډ د ادب د پاره خصوصاً دا يو نېک فال دے چې د يوې خوندورې افسانوي

مجموعې اضافه پکښې اوشوه.دا ادبي سفر دے پښتانهٔ لیکوال په اکثریتي توګه لکه د للمې د ګلونو خپلې خوشبوګانې خوروے ولې فضاء پرې معطره ده.بلکې فضاء ئې په پوره توګه معطره کړې ده چې تر دې دمه تسلي بخش ده.

په درناوي
ډاکټر شېرزمان سیماب
پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون
۱۲ جولائي۲۰۲۴ء

# د محمد الیاس افسانه

ښاغلے محمد الیاس د پښتو ژبې ډېر ښۀ شاعر او ادیب دے او خپل قلم ئې د غزل، نظم او هائیکو په مېدان کښې ډېر ښۀ زغلولے دے او د عروج بام ته ئې رسولے دے خو زما په خیال په پښتو ادب کښې د شاعرۍ نه زیات د نثر په مېدان کښې د کار ضرورت دے او نثر لیکونکي لیکوالان په پښتو ادب کښې د نِش برابر دي.

محمد الیاس په خپل دې کتاب "پردے حق" افسانوي مجموعه کښې د افسانوي ادب (فِکشن) باندې قلم ښۀ په راستۍ او روانۍ سره چلولے دے.کۀ یو اړخ ته یو شاعر او لیکوال په خپله شاعرۍ کښې د سماج د ستونزو او دردونو اظهار کوي نو بل اړخ ته په افسانه کښې هغۀ د خپل سماج د ظلم، جبر، زور زیاتي، بې وسۍ او بې انصافۍ خلاف اواز اوچتوي.

محمد الیاس چې په خپل چاپېرچل کښې څۀ لیدلي، کتلي، اورېدلي او محسوس کړي دي هغۀ واقعاتو له ئې د خپل قلم په ژبه رنګونه ورکړي دي، هره افسانه ئې د خپل چاپېرچل او ماحول سره ښیخي سمون خوري.په فني او فکري لحاظ سره ټولې افسانې ئې په تول پوره دي.

امېد لرم چې ښاغلي محمد الیاس به په راروان وخت کښې هم د پښتو ادب مئینانو ته د شاعرۍ سره سره د نثر په مېدان کښې داسې غوره ملغلرې راوړي.

حُجت الله
ایم فل سکالر
پښتو څانګه ملاکنډ
پوهنتون
نېټه ۸فروري ۲۰۲۵ء

# خپلې خبرې

د سوشل مېډیا په دې دور کښې که مونږ اوګورو نو په فېس بک انسټاګرام او ټک ټاک باندې هره لمحه یوه نوې قیصه او یوه نوې افسانه د مخې تېره شي او د دغه مېډیا استعمالونکي په هره لحظه کښې د حقیقي افسانو اثار کتلې شي. خو دغه افسانې مخې ته راشي او بیا هېرې شي نو ځکه د یو لیکوال په هېڅ به زما ذهن کښې دا خبره هر وخت اورېده رااورېده چې که چرې مونږ د خپل کلتور او په هاغې کښې د ناورې پېښو په حقله اونه لیکل نو یو خو به راتلونکې نسل ته کوز سترګې شو او بل خوا به زمونږ اولس هم دغسې بېلارې پاتې شي.هم دغه وجه وه چې خپلو افسانو له مې د کتابي شکل ورکولو فېصله وکړه او د دغې چاپ بنیادي وجه هم دا ګڼم چې د دې کتاب په ذریعه زۀ ځینې هغه حقایق په ګوته کړم کوم چې زمونږ په ټولنه کښې د پخوا راسې شتون لري او بیا بیا مخې ته راځي خو د بده مرغه نه پرې څوک خبرې کوي او نه ئې څوک عملي کوي.

ما په دې کتاب کښې د پښتنې ټولنې نه د دغې ټولنې د ناغوښتلې او ناوړو پېښو د لړې کولو د پاره یوه هڅه کړې

لکه د مثال په توګه د زوي په نه زیږولو کښې د ښځې ملامتول، په ښکاره توګه د هغې ګناه نه ده. د پېغور، وروروليٓ، کرکي ،غربت او د میني سره سره ما په دې کتاب کښې زمونږ په ټولنه کښې په سپینه جامه کښې د هغه کردارونو رامخې ته کولو کوشش کړې څوک چې پردې حقونه خوري خو په ظاهره خلقو ته فرښتې ښکاري

په فني توګه کېدې شي چې زما په دغه افسانو کښې بلها خامۍ هم وي خو زهٔ بیا هم هیله لرم چې زما دغه لیک به چرته نه چرته زمونږ د ټولني پام دغه ستونزو ته رااړوي او بیا به د خېره زمونږ ټولنه دومره پوهه شي چې دغه ناوړې کارونه به نه کوي

اخر کښې زهٔ د ډاکټر علي خېل درياب صېب د زړه د تله مننه کوؤم چې زما په افسانو کښې ئې ما ته ځاے په ځاے خامۍ په ګوته کړې او زما اصلاح ئې کړې ده.

د ډاکټر شېرزمان سیماب صېب هم د زړهٔ د تله شکریه ادا کوم چې د ډېرو مصروفیاتو باوجود ئې زما اصلاح هم

کړې ده او د چاپ نه مخکښې ئې دا کتاب اولوستو او خپلې ګټورې خبرې ئې پرې د سریزې په شکل کښې ولیکلې او د کتاب ښکلا ئې پرې زیاته کړه.

زه د ګران کشر او د ادب پال ملګري تنظیم د اولني صدر وقارمحمدوقار او حجت الله خان (ایم فِل سکالر ملاکنډ پوهنتون) هم مننه کوم چې د کتاب کمپوزنګ او ځیر کتنه کښې ئې راسره کومک کړې دے.

د ادب پال تنظیم د ټولو غړو هم مننه کوم ځکه چې دا کتاب د هغوي په مرسته نن ستاسو په لاسونو کښې دې.الله دې وکړي چې زما دغه مات ګوډ لیک د قام د لارښودنې ذریعه وګرځي

په ډېره مینه

محمد الیاس دمام سعودي عرب

۵ اپرېل ۲۰۲۵ء

# ایکس کروموسوم

نن په یونیورستۍ کښې ننګیال د خپلې پي ایچ ډي د مقالې دفاع کوله . د ننګیال د مقالے عنوان د ماشومانو په پیدائش کښې د ایکس او وائي کروموسوم په کردار بحث کول وو.

ننګیال چې خپله مقاله واوروله نو هغه د پي ایچ ډي مشر ازمیبنت اخستونکي د هغه نه په دغه اړه مختلف سوالونه اوکړل . ننګیال د ټولو سوالونو په ډیره ښه طریقه جوابونه ورکړل . وروسته هال کښې موجود ټولو ګډون والو هم د ننګیال نه د هغه د پي ایچ ډي په حقله ښېلا ښېل تپوسونه وکړل د کومي چې ننګیال په ډیره ښه طریقه دفاع وکړه.دغه سوالونو کښې یو دا سوال هم وو چې د هلک او جینۍ پیدائش د مور او پلار د کوم کروموسوم د وجي کیږي ؟

ننګیال په جواب کښې ووې چې د هلک او جینۍ په پیدائش کښې په هر صورت کښې د مور له اړخه ایکس

کروموسوم وي او د پلار د اړخه یا خو ایکس کروموسوم وي او یا وائي . اوس که جینئ پیدا کیږي نوهغه د پلار د ایکس کروموسوم له وجي کیږي او که هلک وي نو د پلار د اړخه په هغې کښې وائي کروموسوم شامل وي.

د ننګیال د دغه جواب په اوریدو د هغه د پي ایچ ډي مشر ازمیبنت اخستونکي ننګیال ته دهغه د مقالے په کامیابه دفاع مبارکي ورکړه . او ننګیال ډاکټر شو

د پي ایچ ډي کولو نه پس ننګیال ته په یونیورسټئ کښې د اسسټنټ پروفیسر نوکري میلاؤ شوه. د نوکرئ میلاویدو نه پس د ننګیال واده وشو.او بیا هغه ورځ هم راغله چې د ننګیال زوي پیدا شو.ننګیال د زوي په زیږون ډیر خوشحاله وو.د ژوند ورځي شپې ئې ښه په خوشحالئ تیریدې خو بیا چې د ننګیال په کور کښې لور پیدا شوه د لور په زیږون ننګیال ډیر خوشحاله نه وو هغه غوښته چې نارینه اولاد ئې وشي.ورځي شپې تیریدې او بیا دوه کاله پس چې کله د ننګیال دویمه لور اوشوه نو دا ځل دومره خفه شو چې د

خپلې ښځې سره ئې خبرې هم بندې کړې په دې وجه چې لور ئې شوې وه . ښځې ورته ډېر ووئيل چې ستا زما سره ولې ورانه ده په دے کښې زما څۀ قصور دے خو ننګيال چرته منله . او هر وخت به ئې ښځې له پېغور ورکولو.

د ژوند ورځې شپې تيريدے او د ننګيال به هر وخت د ښځې سره جګړه وه تر دې پورې چې ننګيال ځان له دويم واده هم اوکړو په دے غرض چې نارينه اولاد مې اوشي خو ددوېمې ښځې نه هم د ننګيال دوه لوڼه اوشوې.اوس د ننګيال دخپلې اولنۍ ښځې سره سره د دوېمې ښځې سره هم ورانه شوه.

د نارينه اولاد د پيدائيش په سوچونواوکشمکش کښې د ننګيال د ژوند زياته برخه تېره شويوه اوس ئې زوے هم زلمے شوے وه دا ځل خوشحاله وو په دے هيله چې نمسې به ئې وشي ځکه ئې زوي له هم د سبق دوران کښې واده وکړو. ډېر خوشحاله وو چې اوس به مې د خېره نمسې اوشي .خو د قدرت کارونو ته ګوره د واده نه پس ننګيال د پلار نه بيل شو

ځکه چې د ننګیال هم اولنۍ لور شویوه او پلار به ورته هر وخت پیغور ورکوۀ چې لور دې شته او زوے دې نیشته

د زوي د بیلتون نه پس ننګیال بیمار شو اوس به د هغه خیال دهغه مشري لور ګُل ځانګې ساتلو کومه چې په میډیکل کالج کښې د ایم بي بي ایس د څلورم کال زده کوؤنکې وه . نن ګُل ځانګې د پلار نه تپوس اوکړو چې بابا په کومه خبره چې ستا زما دمور سره ورانه ده هغه خو ستاسو د پي ایچ ډي مقاله وه او تاسو ثابته کړې هم وه چې دا ټول کمال د پلار په کروموسوم کښې وي نو بیا تا زما د مور سره دا دومره موده په څۀ ورانه وه ؟

د ننګیال سره جواب نه وو او د شرمه نه ئې دا هم نه شو وئیلے چې ګنې دا د پلار دکروموسوم وجه نه ده ځکه چې یو خوا د هغه لور هم پوهیده ځکه چې پخپله ئې په میډیکل کالج کښې سبق وئیلو او بل خوا ننګیال ته هم پته وه چې دا خو ټوله د وائي کروموسوم وجه ده کوم چې په پلار کښې وي. د ننګیال په سترګو کښې غټې غټې اوښکې وې ځکه چې نن

دهغه خدمت ایکس کروموسوم کولو . یعني د هغه لور د هغه خدمت ته ولاړه وه

د یو سوړ اسویلي نه پس ئې په ژړا کښې ئې خپلې لور ته اووې چې مور ته دي ووایه چې بابا معافي غواړي.ځکه چې د ثبوت باوجود ما د هغه سائنس نه انکار کولو د کومې په تحقیق چې ماته د ډاکترۍ ډګري مېلاؤ شوې وه .

# وروروليي

سليم د مور په غېږه کښې وۀ چې پلار ئې مړ شو اوس د هغۀ د پالنې ذمه واري د هغۀ د مشر ورور جواد په اوږو راغله.جواد د خپل کشر ورور سره دومره مينه لرله چې د هغۀ د لاسه ئې وادۀ هم ځکه نۀ کولو چې هسې نه سبا راته ښځه د ورور سره د ښېګړې په لار کښې خنډ جوړ شي.

جواد به په کلي کښې د ختې ګټې مزدوري کوله او په خپل کشر رور سليم به ئې سبق وئيلو.سليم چې لسم پاس کړو نو په پوليسو کښې برتي شو.سليم لائق وو.دغلته ئې په ذاتي توګه خپله تعليمي سلسله جاري وساتله هم داوجه وه چې پرله پسې ئې امتحانونه پاس کړل او تر شپاړسمه ورسېد . د دغې تعليم برکت وو چې هغه د انسپکټر عهدې ته ترقي اوشوه.جواد چې کله خپل رور کامياب اوليدو نو اوس ئې په خپله هم واده اوکړو او خپل رور له هم.

د ودونو نه پس څۀ ورځې خو د دواړو ورونو ډېرې په خوشحالۍ سره تېرې شوې خو بیا لږه موده پس د ښځې په چغلو باندې د سلیم په زړۀ کښې د خپل ورور د پاره کینه او بغض زیاتېدۀ.هر وخت به ئې ورته تندے د کرښو نه ډک کړے وۀ.د هغې نتیجه دا اوخته چې اول خو ئې ترې کور بېل کړو بیا ترې حده رااوورسېدو چې د یو بل سره ئې تګ راتګ هم ختم شو.

د تګ راتګ ختمیدو نه څۀ ورځې وړاندې جواد د خپل زوې د علاج په لړ کښې د خپل رور سلیم نه اتۀ زره روپۍ قرض کړې وې د سلیم ښځۀ چې د دې نه خبر شوه نو مچۍ پرې راپارې شوې او خاوند ته په وېنا سر شوه چې تۀ دې ایله بیله دغه نېستمند ورور له قرض ورکوے؟ هغۀ خو نه د چا د ښې دے او نۀ د بدې. کـه پیسـے دې تـرې واپـس وانخستې نو زۀ درسره په دے کور کښې نوره نه کیښنم.

سلیم د ښځې خبره چېرته غورزوله.او نن ئې په ډک بازار کښې د خلقو د مخې د خپل ورور ګریوان ته لاس

واچولو.او ورته ئې اووې چې بس زهٔ نور تا ته صبر نهٔ شم کولې.ماله مې خپلې اتهٔ زره روپۍ راکړه.

د جواد سره دومره روپۍ چرته وې څکه چې نهٔ خو د هغهٔ ښهٔ کاروبار وهٔ او نهٔ سرکاري نوکري،بس د ختمې ګټې مزدورۍ ته ناست وهٔ.هغهٔ سليم ته اووې چې اوس خو راسره نشته او خير دے يو څو ورځې پس به زهٔ تاله ستا قرض واپس درکړم.خو سليم چرته منله.او ډيره په ترخه ژبه کښې ئې ورته اووې چې څه مړه تا خو د خوند نه خبره ويستلې ده.ماله مې خپله قرضه هم نن پکار ده.

جواد هم خپله بې عزتي نهٔ غوښتله او د ښځې سره ئې د هغې د کالي د خرڅ په باره کښې خبره وکړه ښځې ئې د جواد خبره اومنله.جواد بيا سليم ته اووې چې زما خو هسې هم نور وس نهٔ کيږي خو بس د ښځې کالي مې دے په بل چا به ئې خرڅوم جو تهٔ ئې واخله.خير دے تاله به ئې لږ ارزان درکړم.خپل قرض به ترې هم واخلې.او څهٔ لږې ډيرې روپۍ به پکښې ماته هم ميلاؤ شي.څه ماته ګوډه به پرې اوکړم .

سـلیم چـې دا خبـره واورېـده نـو سـترګې ئـې پـرې رااوویستې او ورته ئې اووې چې زما سره ښهٔ ډیرې روپۍ دې خـو بـس تـا نـه ئـې هسـې اخلـم او کـالې درنـه نـهٔ اخلـم.خپـل بندوبست په خپله کوه.ماته صرف زمـا قـرض واپـس کـړه ګنـې نو. . .جواد ورته اووې چې ښهٔ ده زهٔ به کالې په بل چا خرخ کړم خو تهٔ به راته لږ صبر کوې.خو سلیم صبر چرته کولو.د قرض نهٔ واپس کولو پـه وجـه ئـې پـه خپـل رور بانـدې پـه څـوکۍ کښـې درخواسـت اوکـړو.پولیسـو جـواد اونیولـو او څـوکۍ تـه ئـې راوستلو.

حوالـدار د جـواد نـه د سـلیم د قـرض د نـهٔ واپـس کولـو تپـوس اوکـړو.چـې پـه دې کښـې د جـواد د سـترګو نـه اوښـکې روانې شوې او په غریو نیولې اواز کښې ئې رور ته اووې.

سلیم.ستا خو د پالنې هم څوک نهٔ وو تهٔ ما د دې ورځې دپـاره لـوے کـړےوے ؟ ماپـه تـا بانـدې دا سبق د دې ورځـې دپاره وئیلـې وهٔ؟ چـې تـهٔ بـه نـن زمـا سـره دا سـلوک کـوے؟ د

جـواد لا دا خبـره پـه خولـه کښـې وه چـې حوالـدار د سـلیم نـه تپوس اوکرو سلیمه! دا رښتیا دي؟

سلیم په ټیټو سترګو اقرار اوکړو او وې وئیل چې "آو" حوالدار صیب دا بالکل رښتیا دي زما د پلار د وفات نه پس زما پالنه زما دې مشر رور کړې وه او سبق ئې راباندې هم وئیلې دے،

په دې خبره د پولیس حوالدار په سترګو کښې اوښکې راغلې . وې افرین دې وي او په تادې وي، انسپکټر صیب دا خو ستا د پلار په ځاے ورور دې ستا پالنه او روزنه ئې کړې ستا د تعلیم او تربیت درونږ پیټے ئې وړے دے . او اوس چې ته په خپلو پښو اودریدلے ، نو د هغه د ښه سلوک دغه بدله ورکړځو ے ، بیا ئې د جیب نه اته زره روپۍ راواخستې، د سلیم په لاس کښې ئې کېښودې .او جواد ته ئې اووې . لالا زۀ تاته سلوټ کووم . دغه قرض ما ستا خلاص کړو تا سره چې کله هم دغه پیسې وشوې . نو ماله به ئې راکړې . ګڼې ما درته بخښلې دي

سلیم او جواد دواړه د څوکۍ نه راپاڅېدل ، د سلیم په مخ د ندامت رنګونه تلل راتلل خو د جواد په سترګو کښې د ګټې او خوشحالۍ د اوښکو ستوري ځلیدل

❦ ❦ ❦

# کرکه

د اشنا ګُل همځولو نن بیا په کوڅه کښې لوبې کولې اے جنېده! زۀ پکښې یم؟اشنا ګُل دا خبره لا د خولې نه راویستې نه وه چې جنېد پرې راسور شو ځه مړه تۀ پکښې چا راوستے ئې.اشنا ګُل غریب د شرم نه سر ښکته کړو او یو ګوټ ته اودرېدو.او نورو ورُو ته ئې په سرو سترګو کتل.

شاپن په ننکو ننکو. . ورو پته ټوپی، کوله اشنا ګُل ورته بیا اووې چې اے ما پکښې پرېږدوئ ګورې ښۀ! خو چا هم د اشنا ګُل په خبره غوږ اونۀ ګرولو.او اشنا ګُل خفه زهیر کور ته روان شو.

د اشنا ګُل مور به د رحمت خان د کور لوښې وینځل او د دوه وختو ډوډی به ئې ورکوله.او هم دغه رنګې به ئې د ژوند ورځې شپې تېرولې.نن بیا لکه د نور کله په شان د اشناګل مور د تنور نه ایره راواخسته او لوښې وینځل ئې

شروع کړه چې په دې کښې د رحمت خان لور ګلالۍ چغې کړې او په ژړا سر شوه.اشنا ګُل ورمنډه کړه او وړه ګلالۍ ئې په غېږ کښې واخسته.کله چې د رحمت خان ښځې خپله وړه لور د اشنا ګُل په غېږه کښې اولیده نو خوله ئې پرې رابرخېره کړه.

سخاپتیه مرداره،چنې شنه! تاته چا وئیلي دي چې ګلالۍ قلاره کړه.او بیا ئې ترې په مخ یوه توده سپېړه اوویسته.د اشنا ګُل د سترګو نه د اوښکو رود روان شو او په سلګو کښې ئې اووې اخر ما کومه. . .

د اشنا ګُل لا خبره په خوله کښې وه چې ناڅاپه پرې رحمت خان د لښتې ګزار اوکړو.او ورته ئې اووې چې ژاړه مه ډېرانیه.چا څۀ مړ کړے نۀ ئې.اشنا ګُل په سلګو سلګو کښې مور له منډې کړې چې د هغې د رحم په غېږه کښې سر کېږدي.خو ولې مور ئې پرې هم داسې ناترسه ګزارونه وکړه او په ښېرو سر شوه"خدا ے دي ځواني مرګ کړه چې ځواني مرګ شے تاته چا وئیلي وو چې د هغوي خواله ورځه.هغوي خو خانان دي سپېره! د هغوي خو ستا نه کرکه کېږي.اشنا ګُل

د مور د غېږې نه هم په چغو روان شو.او د دېوال غاړې ته کښېناستو او د ځان سره ئې د خپلې بې وسۍ چغې وهلې.

نن د اشنا ګُل په مخ خندا ګانې ګډېدلې ځکه چې د ګلالۍ د مشر رور وادۀ وۀ مور ئې ورته د پروسګنې کال د وړوکې اختر جامې اغوستې وې او خپلې خیرنې جامې ئې ترې ویستلې وې.اشنا ګُل د ځان سره په زړۀ کښې ووئیل.چې نن دې د خوشحالۍ ورځ ده ښۀ اوخانده چې په زړۀ دې ارمان پاتې نۀ شي.خو قسمت ئې ورته اواز اوکړو.چې خبردار اشنا ګله! تۀ به ګورې نن هم نۀ خاندې ځکه چې ستا د خندا نه هم خلق کرکه کوي.

ټول ماشومان د دیګونو په غاړه وریژو ته ناست وو.اشنا ګُل هم د نورو وړو سره د وریژو غورۍ ته کښېناست.خو هغوي ورله هم دیکې ورکړې چې اخوا شه پمنه.ډېرانیه ستا نه مونږ له کرکه راځي.بل چرته کښېنه.اشنا ګُل په دغه ورځ هم په خېټه اوږے او نهر پاتې شو.

ورځې تېرېدې د اشنا ګُل ژوند هم دغسې د کرکې او نفرت نه ډکو حادثو کښې تېرېدو او هغه به دغه هر څۀ زغمل.د ژمي تور سحر وۀ د دیوالونو یخونو ته کنګل پروت وو اشنا ګُل د کټ نه راپاسېدو.په یخو اوبو ئې مخ لاس اووینځل او د انغري په غاړه د چاے ښبلو د پاره کښېناست.لا ئې ځان ته پیالۍ پوره ډکه کړې هم نۀ وې چې د رحمت خان ښځې پرې راکېښودله د پمن بچیه ! تاته ښۀ پته ده چې دوې زما نه کرکه کوي او تۀ بیا هم زمونږ په پیالۍ کښې چاے ښبې؟ او د نرۍ لختې ګزارونه ئې پرې شروع کړل.

"هله مورو مړ ئې کړمه،هله مورو. . .

د اشنا ګُل د خولې نه بې واره کریکې راختلې.

اشنا ګُل چې د څوارلسو کالو شو نو یوه ورځ سختې تبې نیولې وۀ.مور ئې ډاکټر له بوتلو ډاکټر چې د اشنا ګُل په تن خیرنې جامې اولیدې نو نرس ته ئې اووې چې دا څوک غریب او یتیم هلک دے.د دۀ نه ماله کرکه راځي.دا تاسو اوګورئ.نرسانو بغیر کتلو نه هغه ته دوائي ورکړه چې دا

اوخوره ښئ به شي.هم دغه رنګکې اشنا ګُل او د هغه مور د هسپتال نه هم په سرو سترګو بې نوا کور ته واپس شول.

اشنا ګُل چې خپل دا حالت اولیدو نو د خپل ژوند نه ئې کرکه پېدا شوه.هغه ته دا دنیا د یو ګنده ډېران په رنګکې ښکاره شوه.ځکه چې چا هم هغه ته د انسان په سترګه نۀ کتله.

د پشکال ورځې وې سیند د اوبو نه ډک وۀ.اشنا ګُل په سره غرمه کښې د کور نه راااووت او د سیند په غاړه کښېناست.او د خولې نه ئې یوه چغه اووخته"خدایه زۀ خو هم ستا د دې نورو انسانانو په رنګ ستا یو بنده یم نو بیا دا خلق زما نه کرکه ولې کوي؟ خدایه ولې؟ ځۀ اوشو کۀ زۀ غریب یم دا خو د چا د وس خبره نه ده.خدایه دا خو ستا وېش دے.چاله لږه او چاله ډېره،بیا دا غټان په خوارانو پورې دومره خندا ولې کوي؟" د دې خبرې سره ئې سیند ته ټوپ کړواو د سیند په غېږه کښې د دې کرکژنې دنیا نه د همېشه دپاره پټ شو،انالله و انا الیه راجعون.

# تږوغګے

د اوړي سړۀ غرمه وه.د نمر تپ دومره زیات وۀ چې وجود ئې سېزلو.زۀ چې نن د ښکار نه واپس شوم نو څۀ ګورم چې خېبرۍ ترور پښې ابله پښې او سرتور سر په کوڅو کښې ګرځېدله او چې کله ئې زۀ اولیدم نو رامنډه ئې کړه او بیا ئې راته اووې "یه بچیه! تۀ ورشه ځوک اوګوره چې زمونږ چرګانو له ستنې اووهې"

خېبرۍ ترور به د خپلو چرګانو خیال ولې نۀ ساتلو.او بیا د هغې خو ځوک وو هم نه چې ورله ئې دوه پېسې په ګوتو کښې ورکړې وې.یو زوے ئې وۀ هغۀ هم ورکوټے وۀ د مزدورۍ نۀ وۀ.پاتې شو خاوند ئې نو هغۀ ځانله دومره شوم او کنجوس وۀ چې د اخلې پخلې سامان به ئې هم دومره کم راوړو چې په شرمولو به د کور خلقو ته اورسېدو.او کۀ چرته مېلمه به پرې راغے نو بیا به خېبرۍ ترور په چم ګاونډ کښې د خلقو نه اینګولې او ډوډۍ غوښتله.چې د مېلمه حیا پرې راشي.د خېبرۍ خاوند جمیلې به د خپلې ښځې سره د ټکې ټکې

حساب کتاب کولو.تر دې پورې چې د تیلو د ډبې تیلي به ئې ورته هم شمارل چې دا ډبے به دومره ورځې کوے.ګڼې نو ښځه به نۀ وي.باقي څیزونه خو لا پرېږده.

خبرې به په دې حالاتو کښې هم د خولې نه چونړ نۀ ویستو.او د خپلې جامې پېزار بندوبست به ئې هم په خپله کولو.تر دې پورې چې هغې د کلي غم ښادي هم په خپله د چرګانو د اګو په خرخولو باندې سر ته رسوله.او چې کله به ناروغه شوه نو د ډاکټر فیس او د دارو پیسې به ورله هم د چرګانو اګو پوره کوله.دغسې د کلي د روغ ناروغه د تپوس، د غم ښادۍ او د نورو رواجونو او ضرورتونو پوره کولو واحده ذریعه د هغې چرګان وو هم دغسې به هغې د خپل ژوند ورځې شپې تېرولې.

نن چې ماښام شو نو د خبرې ترور د کور نه ژړاګانې راختلې.د چم ګاونډ خلق د هغوي کره ننداري له راغلي وو.دغه ژړاګانې چې زما تر غوږو شوې نو په زړۀ کښې

اوویریدم څکه چې زما دا خیال شو چې ګنې چېرته جمیلے ماما مړ شو.

او بیا چې کله زۀ د هغوي کره ورغلم نو څۀ ګورم چې د خېبرۍ ترور خاوند روغ جوړ په کټ کښې بر سر ته ناست وۀ او بالنبست ته ئې ډېره وهلې وه.بچې ئې هم په لوبو کښې مشغول وو.د کور لوې واړه خو خوشحاله وو ولې د خېبرۍ ترور سترګې سرې وې.او په سلګو سلګو ئې ژړل.

اول خو ما د جمیلي ماما نه تپوس اوکړو چې ماما څۀ چل شوے دے؟ خو هغۀ راته ووې چې هېڅ چل هم نۀ دے شوے.ښځې هسې مکر ژنې وي.

د جمیلي ماما په خبره مې زړۀ اوبۀ اونۀ څښلې نو ما خېبرۍ ترور د نورو ښځو نه جدا کړه او تپوس مې ترې اوکړو چې تروري ولې ژاړې؟اخر چل څۀ شوے دے؟ ما لا خبره ختمه کړې هم نۀ وه چې خېبرۍ ترور نوره هم په چغو سر شوه.او بیا چې ژړا ئې لږه غلې شوه نو د لوپټې په پیسکې پورې ئې خپلې اوښکې اوچې کړلې او بیا ئې په سلګو سلګو

کښبې اووې "یه بچیه! غرقه شوم،تباه شومه،زما خو صرف دغې ته کاتۀ وو.خدایه زما خو صرف دغې ته کاتۀ وو خدایه. .
".

خېبرې ترور لا ژړل چې ما ترې بیا تپوس اوکړو "خو تروري اخر چل څۀ شوے دے؟" او کله چې زما د لور وادۀ وۀ نو خور مې راله د کالي نه علاوه اصلي جاپانۍ دوه جوړې او یوه د سیفون ښکلې لوپټه راکړې وه اوس به زۀ د هغې دا بدل څنګه پوره کوم،زما نه خو خدا ے دغه یوه اسره هم واخسته"

ما ترې لا بل تپوس کوۀ چې خېبرۍ ترور زما خبره په نیمه کښې پرې کړه،چې بچیه دا لا څۀ کړې راروان اتوار له د امیرولي د زوي خونې دے هغۀ له خو به هم څۀ کول غواړي.خلقو به ځان سمبال کړے وي او زۀ به هم دغسې.

دا ځل زما زړۀ هم صبر اونۀ کړو او لږ په تېز اواز کښې مې ترې تپوس اوکړو "تروري په ما ناوخته کوه مۀ،خو راته ووایه چې څۀ چل شوے دے"

اول خو ئې راتـه زړۀ يـو ځـل بيـا ښـۀ تـش کړو او بيـا پـه ښېرو سر شوه "خدايه تهوغکې لـه تبق راولے چې د چرګـانو نـه ئې خلاصه کړم.خدايه تۀ پرې د شـين اسـمان نـه تنـدر راغـوزار کړے خدايه!!!"

ما چې دا خبره واورېده چې د هغې چرګـان د تهـوغکي د لاسه مـړۀ شـوي دي نـو ځکـه دا ژاړي . نـو اول خـو رالـه خنـدا راغله چې تۀ اوګوره د چرګ نه ئې سم د سرې سر جوړ کـړے دے خو چې بيا به راتـه د خېبرې تـرور د بې وسـۍ او غريبـۍ خبـرې رايـادې شـوې نـو مالـه هـم ژړا راغلـه.الله دې څـوک نـه بيوسه کوي

## پردے حق

هسي خو د امير عالم پلار سيد عالم حاجي صيب د شکل نه ډېر ښه انسان ښکارېدو . ټوله ورځ به په جمات کښې ناست وو مونځونه او نفلونه به ئې کول او اللّٰه ته به ئې سوال او زاري کول چې خدايه ما اوبخښې. او په ژړا به شو

يوه ورځ ترې د بر کلي فقير ګُل تپوس اوکړو چې بابا ته اکثر په دعا کښې په ژړا شې چې دا ولې ؟

سيد عالم حاجي صيب ورته ووئيل چې بچيه ما د ابراهيم خان په ډيران باندي په ناحقه قسم خوړلے دے او د هغې په بدل کښې راته د ډيران دا زمکه مېلاؤ شوې ده

فقير ګُل ورته ووې چې حاجي صيب ژاړه مۀ ستا خبره خو ډېره اسانه ده او شکر دے چې اوس درله عقل راغلے لاړ شه او ابراهيم خان ته خپله زمکه هم واپس کړه او معافي ترې هم اوغواړه . ځکه چې هغه لا ژوندے دے مسله به دې حل شي

سید عالم حاجي صېب فقیر ګُل ته ووې ...

بچیه دا ته څۀ ګډي وډي وائې . په دې زمکه خو ما قسم خوړلې دے او د قسم نه پس مې تر دے دمه د دې ډېران نه هر کال خپل د داماني زمکې ته څره هم وړې ده

اوس ئې ورته څنګه واپس کړم !!!

البته په ابراهیم خان پسې به ورشم او معافي به تري اوغواړم

فقیر ګُل چې دا واورېده نو مسکے شو او د سید عالم حاجي صېب نه ئې د تلو رخصت واخستو.

سید عالم حاجي صېب دفقیر ګُل سره د په مخه کولو نه پس نیغ د ابراهیم خان پسي د هغوي کور ته ورغلې .د ورتلو سره ئې ورته ووې چې د مرګ او ژوند هیڅ پته نه لګي ما ستا په زمکه په ناحقه قسم خوړلے دے ما معاف کړه.

ابراهیم خان ورته ووې تا ډېر زیاتے کړے وو په دروغه دي زما په زمکه قسم خوړلے وو وژلے مې نه شوے ځکه چې د یو انسان قتل دپوره انسانیت قتل دے. په دغه

وجه مې د زمکې نه زړه صبر کړے وو.. خو د قيامت په ورځ مې ذمه وارئې زۀ تا نه بخښنم.

سيد عالم حاجي صيب چې د ابراهيم خان دا خبره واوريده نو غلے شان پاڅيدو او په زړه کښې ئې دا فيصله وکړه چې زمکه ورته ولې واپس کړم .. بس چې زۀ مړ شم نو کيدې شي ابراهيم خان راته په جذباتي خفګان کښې بخښنانه وکړي

سيد عالم حاجي صيب په دغه سوچونو کښې وو او لا خپل کور ته رسيدلے هم نه وو چې دجمات په لاؤډ سپيکر کښې اعلان اوشو چې ابراهيم خان وفات شو جنازه به ئې سبا سحر اته بجې د بر کلي په جنازګاه کښې ادا کيږي.

سيد عالم حاجي صيب اوس هم جومات ته ځي راځي مونځونه هم کوي او دخدائ پاک نه سوال هم کوي چې خدايه ما اوبخښے ..

خو کله کله چې په جومات کښې فقیر ګُل اووینې نو زر ورته د ابراهیم خان خبره رایاده شي چې ما نه ئې بخښلے او بیا په ژړا شي.

⚘ ⚘ ⚘

# بېلتون

میمونه: ستړي مهٔ شې خور.راځه کښېنه.وارهٔ زارهٔ دې ښکه دي ؟

شهزادګۍ.خدایے دې خوشحاله کړه ټول ښه دي تاسو ښکه یئ؟، ماما ښکه دے؟

یه ګُل پانې منډه کړه ترور له دې بالښت راوړه.مېمونۍ خپلې انګور ته اواز اوکړو.

ګل پانې په منډه منډه بالښت راوړو او بیا ئې غولې جارو کول شروع کړه.

شهزادګۍ: خورې! خدایے دې لرې اننګور خو دې راته کارداره ښکارې ؟

میمونه : چپ شه خورې! نن سبا ټولې اننګور یانې داسې دي چې توبې اوباسه

بس وخت ورسره تېروه.هغهٔ بله څهٔ شوه ؟ شهزاګۍ ترور میمونۍ ته اووې.

میمونه: هغهٔ خو د پلار کره په شپو باندې تلې ده.نن به راشي.

ګل پاڼې چې دا خبرې واورېدې نو خاوند ته ئې چغلي اوکړه.

چې ستا مور داسې وې خاوند ئې په ګُل پاڼې باندې د لختې ګزارونه اوکړه.چې تهٔ زما د مور پورې خبرې کوې.ګل پاڼه په سلګو سلګو خپلې کمرې ته ننوته او په کټ کښې کښېناسته لږ ساعت پکښې تېر نهٔ وهٔ چې په دې کښې پرې د ګُل پاڼې يور نيازبينه راننوته او خوله ئې پرې رابرخېره کړه.

د نواب لورې.سنبال کړې پالنګ ته اوخېژه چې کړو له ګوتې ورنهٔ وړے ؟

ګل پاڼې د حيا نه غړ اونهٔ کړو چې څهٔ خبر دے مشره يور مې ده.ګل پاڼې چې به غولے جارو کرو نو بيا به ئې د کور تول لوښې اووينځل،مېښې ته به ئې بوتاوه وکړه اوړه به ئې واغړل او بيا کهٔ به د کور جامې سخا وې نو هغهٔ به ئې هم ووينځلې.خو د دې هر څهٔ باوجود هم د خواښې په زړهٔ کښې د ګُل پاڼې دپاره ځاے نهٔ وهٔ او هر وخت به ئې ورته سپور ستغې اوروليې.

ورځې تيرېدې د ګُل پاڼې دپاره د خوابښې كور دوزخ جوړ وے وۀ زرين كاكا چې نن كورته رانتوته نو اوازئې اوكړو.

يه نوشاده! ګُل پاڼې ته ووايه چې چاے پوخ كړي او حجرې ته ئې راوړه مېلمانه راغلي دي.

ګل پاڼې چې چائے پوخ كړو نو نوشاد له ئې وركړو چې دا حجرې ته يوسه.

مېلمنو چې چاے اوڅښله نو نوشاد لوښې راغونډ كړل.او كور ته روان شو.په لار كښې ترې پتنوس اولوېدو او پيالۍ ترې ماتې شوې

د پيالو ماتېدل څۀ وو چې د كور ټولو خلقو په ګُل پاڼې راباندې كړل او بيا چې به څوک هم راتله نو ګُل پاڼې ته به ئې يو څو سيپارې واورولې چې زوې دې ټولې پيالۍ ماتې كړې.د ډېر شور د وجې د چم ګاونډ خلق كوټې ته رااوختل اخر

دا چې د ګُل پاڼې نه هم صبر اونۀ شو او خپلې یور نیازبینې ته لګیا شوه.

تا خو ګورې چې په خوانښې څۀ جادو کړے دے چې هډو غږ درته هم نۀ کوي او چې زۀ. . .د ګُل پاڼې لا دا خبره په خوله کښې وه چې نیازبینې پرې خوله رابرخېره کړه.خپل کار کوه اوږدژبې ،زما سره خوله مۀ ګډوه.اوږدژبې خو به تۀ ئې.دا تور مخ دې خاورې شه.ګل پاڼې ورته هم په خوله کښې جواب ورکړو

د ګُل پاڼې خاوند چې مابنا م کور ته راغلے نو ګُل پاڼې ورته اووې چې بس په دې کور کښې زما ګزاره ګرانه ده.دلته به یا زۀ یم او یا به. . . .

# بدل

پرویز چې لړ لوے شو نو مور ته ئې ووئیل چې مورې نن به تهٔ ضرور ماته زما د پلار قیصه کوے.چې هغهٔ څهٔ شو.مور ئې ورته ډېرې انې بهانې اوکړې خو پرویز نهٔ منله.اخر دا چې مور ئې د ځان سره د کلي مقبرې ته روان کړو.او بیا د یو قبر خواه کښې کښېناسته.

مورې تا خو زهٔ مقبرې ته راوستم ولې خېر خو دے؟،پرویز په حېرانتیا کښې مور ته اووې.د پرویز د مور سترګې د اوښکو نه ډکې شوې او غربو اونیوه.

"بچے ستا پلار. . ." مورې ولې زما پلار مړ دے څهٔ؟

تا خو وے چې هغهٔ خو په بهر ملک کښې دے.زما پلار په خپل مرګ مړ دے کهٔ چا وژلے دے.هغهٔ کله مړ دے،په څهٔ مړ دے؟

پـه څـۀ او چـا مـړ کـړے د ے،پرویز بې واره بې واره د مور نه تپوسونه شروع کړل.

د پرویز مور په خپلې شلېدلې لوپټې د سترګو اوښکې اوچې کړې او بیا په سلګو سلګو کښې ئې خپل زوي ته قیصه شروع کړه.

رحمت خان او عـزت خان دواړه رونړۀ وو ،کلـه ئې چې پلار مړ شو نو جائیداد ئې اوویشلو.ستا پلار به د رحمت خان دهقاني کوله

یوه ورځ رحمت خان او عزت خان د پټي په پوله باندې وران شو.او په یو بل پسې ئې ټوپکې راوویستې.ستا پلار هم پـه دغـه موقـع موجـود وۀ هغـۀ د دواړو رونړو پـه مېـنځ کښـې جګړه نۀ غوښتله او د خلاصې دپاره د دواړو مېنځ تـه راغلو او بیا ئې ورته منت زاري اوکړه.چې ګوره خان جګړه ښـۀ خیز نۀ د ے.او بیا تاسو دواړه خو رونړه یئ .

په عزت خان دا خبرې بدې اولګېدې او ورته ئې اووې چې ته څوک ئې چې ماته نصيحتونه کوے.او بيا ستا پلار. . .

سلګو د پروېز د مور ژبه بنده کړه.مورې بيا څه اوشو؟پروېز په ژړغوني اواز کښې اووې.بچے! بيا عزت خان ستا په پلار د ټوپک ډزې اوکړې او د هغې غټ ثبوت دا قبر دے.

پرويز د پلار په قبر په چغو چغو وژړل او د مور سره سرې سترګې کور ته واپس شو د دې خبرې لا څو ورځې تېرې نه وې چې پروېز ټوپک ته لاس کړو نو مور ئې ورته اووې چې بچے! مۀ کوه هغوې ډېر زورور دې هسې نه چې. . .

مورې کۀ زورور دې ځان له به وې زۀ خو وايم چې د هغۀ په کوپړۍ کښې مې وينې اوڅښلې.او تۀ وائې چې. . . .

د دې نه پس پروېز په ټوپک کښې دانے کېښودلې او روان شولو.څه ګورې چې عزت خان مخامخ راروان دے.پرويز

ته ئې اواز اوکړو هلکه منډه کړه زمونږ غنم ژرندې ته یوسه او چې اوړهٔ شي نو بیا....

د عزت خان لا دا خبره په خوله کښې وه چې پرویز پرې بې واره بې واره ډزې شروع کړلې او د عزت خان نه ئې د خپل پلار بدل واخستو.

پرویز چې کله عزت خان اوویشتو نو کور ته په منډه منډه راغے او مور ته ئې اووې چې مورې! زېرې مې دربانديې ما د خپل پلار بدل واخستو .

د پرویز زیرے د هغهٔ د مور دپاره داسې وهٔ لکه د ټوپک ډز.د هغهٔ د مور د ښو نه زمکه اوتښتېده.او په ژړا شوه

یه بچے! دا دې څهٔ وکړه چې د دغهٔ زورورو ګرېوان ته دې لاس واچوهٔ.د دې خبرې نه پس ئې په زړهٔ د مرګ دوره راغله او سا ئې ورکړه.پرویز کهٔ یو خواه خپل پلار اوګټلو نو

بل خواه د هغۀ زېرې د هغه نه خوږه مور هم جدا کړه.او وس په خپله هم د کلي نه مفرور دے.

❦ ❦ ❦

# د شهادت ارمان

د اکمل مور نن بیا د خوشحالۍ نه په جامو کښې نهٔ ځائیده.د چم ګاونډ په غریبانانو ئې خېراتي پېسې ویشلې.یه شهابه! منډه کړه د شلو روپو پتاسونه راوړه د خېره سره روز دې په ټول سکول کښې اول نمبر راغلے دے.

اکمل د وړوکوالي راسې خوبونه لیدل چې کهٔ خېر وي زهٔ به په فوځ کښې بهرتي کېږم او بیا هغهٔ ورځ هم راغله چې اکمل د فوځ په اولني ازمېښتونو کښې کامیاب شو.هغهٔ ډېر خوشحاله وهٔ چې اوس به د خېره سره د هغهٔ ټول ارمانونه پوره شي.خو کله چې هغهٔ ته د فوځي هیډکوارټر له اړخه خط راغے نو د لوستو سره د اکمل سترګې د اوښکو نه ډکې شوې.غرېو اونیوه او بیا ئې هغهٔ خط د ډېرې غصې نه اوشلوهٔ.مور ئې چې د اکمل دا حالت اولیدو نو ورته ئې اوې بچیه! تهٔ دلته ژاړې نو د دښمن سره به په محاذ څهٔ اوجنګېږې او بیا. . . .

د اکمل مور لا نور هم څهٔ ووئیله چې په دې کښې اکمل مور ته په ژړغوني اواز کښې اووې

مورې هم دې باندې خو ژاړم چې نن زۀ د دښمن سره په محاذ باندې د جنګېدو دپاره اونۀ تاکلې شوم.د شهادت ارمان مې پوره نه شو.

مور ئې اک . مل ته دلاسه ورکړه چې په هر کار کښې د خدا ے څۀ راز وي.ستا دپاره به په دې کښې خير وي.

ورځې تېرېدې د اکمل په زړۀ کښې د فوځ د بهرتي کېدو تنده نوره هم زياتېده.د مخکښې نه ئې زيات محنت شروع کړۀ او دا ځل د ISSB لۀ اړخه د فوځ د بهرتي کېدو دپاره مناسب اوټاکلې شو.اکمل کاکول ته لاړې اوبيا هغه ورځ هم راغله چې د ټرېنګ ختمېدو نه پس د اکمل پوسټنګ په يو داسې محاذ وشو چرته چې د مخکښې نه حالات سازګار نه وو. اکمل ته چې د دغې پوسټنګ پته ولګېده نو مور ته ئې مبارکي ورکړه چې ستا د زوي د زړۀ ارمان پوره شو.د خېره سره سبا له به د سياچين محاذ ته روانېږم.او بيا به انشاءالله نهه مياشتې پس راځم.مور ئې اکمل په دواړو

مخونو ښکل کړو او بیا ئې د دعاګانو سره رخصت کړو.چې ځه الله درباندې تود باد هم مهٔ لګوه.

پېنځه میاشتې تېرې شوې د چم ګاونډ او د کور خلق د اکمل د راتلو په انتظار کښې ناست وو چې سبا له به اکمل کور ته په چوټۍ راځي.

د قدرت کار ته ګوره چې هم په دغه شپه د دښمن فوځ په دوي حمله وکړه نیمه شپه وه تورې تیارې وې،یخه هوا چلېده.د اکمل سترګې چې اوغړېدې نو ورته داسې ښکاره شوه لکه چې د قیامت شپه وي،د ټوپکو او د بمونو په ډزو کښې د یو بل اواز اورېدل هم ډېر ګران کار وهٔ.په دې کښې یو سپاهي سا نیولے د اکمل خواه ته راغے او ورته ئې د حوالدار ګُل نبي د شهادت قیصه بیان کړه.اناالله ونا الیه راجعون!

د اکمل سترګې د غصې نه سرې شوې ځان ئې تیار کړو او بیا ئې خپل یونټ نه خبر دارے ورکړو.چې د دې نه وړاندې چې دښمن زمونږ په پاکه خاوره خپل ناپاک قد مونه

ږدي.مونږ له د هغې مخ نیوے پکار دے.او بیا ئې د الله اکبر د چغې سره د دښمن مخه اونیوه .

چاپېره سور اور وربېدو.د توپو درزا. . .د ټوپکو ټسا. . . . د مشینونو کړسا. . . . او د بمونو په ډزا کښې اکمل سره د دولسو کسانو مورچې ته رااورسېدو د مشین ګن ججوره ئې په تادۍ ډکه کړه او بیا ئې مشین ګن ته اوږه ورکړه او په دښمن ئې سرې لمبې شیندل شروع کړې .

. د دولسو ګهنټو د مسلسل جنګ نه پس د دښمن له اړخه ډزې لږې کمې شوې،بې شمېره کسان ژوبل او مړه شول.اکمل د اندازې اخستو دپاره دمورچې نه سر رابهر کړو او مخ په وړاندې روان وو.خپل یو سپاهي ورته اواز اوکړو چې دښمن په شا تمبېدلے دے د اکمل په شونډو مسکا خوره شوه.د ډېرې خوشحالۍ نه ئې په سترګو کښې اوښکې راغلې.چې په دې کښې ناڅاپه د بل اړخ نه یوه ګولۍ راغله او اکمل د زړۀ په سر اولګېدو.د شهادت د جام څښلو نه وړاندې

ئــې د خـولې نــه دا الفــاظ اووتــل.مـورې.مبــارک شــه.مبــارک شه.ستا د بچي د شهادت ارمان پوره شو.

انالله و انا اليه راجعون.

# وقف کېدل

د امیر صېب رور د غربت د لاسه ډېر تنګ وو ټوله ورځ به غریب محنت مزدوري وکړه خو ګراني دومره ډیره وه چې ګوزاره ئې نه کیده . او چې امیر صېب ته به ئې کله ووې چې روره ګزاره مي نه کیږي په جائداد کښې چې زما څومره برخه کیږي که هغه دي راکړه نو زما حالت به لږ ښه شي –

امیر صېب چې به د غریب ورور دا خبره واوریده نو مسکے به شواو رور ته به ئې ووې چې زهٔ په تبلیغ کښې ځم چې راشم نو ستا برخه به تاله درکړم .

دهغې ورځې نه پس امیر صېب خپل ټول عمر د تبلیغ دپاره وقف کړو.

❦ ❦ ❦

# ناشکري

دسلطان اباد شيرمحمد مولوي صېب ته چې په بهر هېوادونو کښې مېشته په دين د مينو د اړخه د هغه د مدرسې په نوم چنده ميلاؤ شوه نو يوه حصه ئې مدرسې له ورکړه چې د خلقو د خولے نه اوځي او په باقي درے حصو باندي ئې ځان له نوے ټوډي موټر واخستو.

د شيرمحمد مولوي صېب ملګرے نورولي خان چې ورله سلطان اباد ته مبارکۍ له لاړے نو مولوي صېب ورته لګيا شو .چې مونږ هسي د اللّه شکر نه ادا کوؤ . ګڼې زۀ چرته او دا موټر چرته

❦ ❦ ❦

# غفور او رحيم

ملا صېب به د کلي په جومات کښې امامتي کوله خلقو به ورله ډېر قدر کولو.ملا صېب ته چې پته ولګېده چې خلق راسره دے نو ووټونو ته ودرېدو.خلقو ورسره د ظاهري دينداری د وجې ملګرتيا وکړه او ووټونه ئې وګټل.د زيات ووټ اخېستو د وجې ملا صېب د علاقې د ممبرانو ناظم شو

د ناظم جوړېدو نه پس ملا صېب د امامتۍ سره سره د خېر ښېګړې کارونه شروع کړه ځکه چې د سرکار د طرف نه به ورته د دغه کارونو د نګرانۍ د پاره پېسې مېلاوېدې .

مولوي صېب چې په خپله علاقه کښې يو څو کارونه وکړه نو څۀ لږې ډېرې پېسې ئې پکښې ځانله اووهلې.پېسو ملا صېب له دومره خوند ورکړو چې ځانله ئې د ګېنګپانو يو ټولګې هم جوړ کړو او په پردو پېسو به ئې خېراتونه هم کول او خپلې چکرې به ئې هم وهلې او خلقو ته به ئې ويئله چې دا مزې په ښار کښې دي.د ناظم د عهدې له وجې به ورته د تحصيلدار او اسسټنټ کمشنر په دفترونو کښې افسرانو هم

درناوي ورکولو.ملا صېب چې د ځان سره د سرکاري خلقو د درناوي دغه عارضي معامله ولېده نو مازغه ئې مکمل خراب شوه او ښه په ښکاره ئې د علاقې د قومي پيسو نه غلا شروع کړه تر دې پورې چې د قومي غرونو د لاچيانو د خرڅولو نه پس ئې د دغه قومي پېسو نه ځانله بلها پيسې هم واخستې خو چا هم د مولوي صېب نه دا پوښتنه ونه کړه چې ته دا غلا ولې کوې؟

مولوي صېب اوس هم ټوله هفته د کونډو ، يتيمانو او نورو بې وسو او غريبانانو حقونه وهي خو د جمې په ورځ په جمات کښې د ممبر دپاځه خلقو ته لګيا شي .چې

الله ډېر غفور او رحيم دے

# عمره

حاجي صيب چې د طواف نيت اوکړو نو د استلام سره سم ئې د موبائل نه کور ته په آئ ايم او باندي کال اوکړو ...

وعليکم سلام بچيه څنګه يې؟

ښه يمه بابا

تاسو څنګه يئ؟

بس بچے د اللّٰہ ډېر شکر دے ايله مې طواف شروع کړو دا اوګوره کنه او بيا ئې ورته د خانه کعبې د طواف منظر اوښودو. او هم په دغه کښې د حاجي صيب دطواف اولنے چکر ختم شو .. لنډه دا چې حاجي صيب په پوره طواف کښې موبائل نيولے وو او پوره طواف ئې د کور او د کلي د خپلو خپلوانو سره په دغه ګپ شپ کښې تېر کړو .. د.غوا مييښې نه راواخله د دکان او پټي پوري پوره معلومات او د کار روزګار خبرې ئې لا ختمې نه وې چې طواف ختم شو ..

زرئې خپل زوي ته ووې بچيه طواف ختم شو د مقام ابراهيم خواته دوه رکعته کوم نو بيا به روسته خبرې اوکړو .

بنه بابا ټيک شوه . اللّه دې ستاسو عبادت قبول کړي او بيا دانش په موبائل خبرې بندې کړې .

لږه شيبه پس چې دروازه اوټکولې شوه نو څۀ ګوري چې د محلې دجمات امام صيب او احمد کاکا ولاړ وو . هلکه پلار ته دې ټيلي فون وکړه چې خبرې ورسره اوکړو.
بنه جې. دانش بيا په ائې ايم او باندې کال اوکړو .بابا سلام عليکم
وعليکم سلام بچيه ايله مو سعي شروع کړه . اوس د صفا نه اولنے چکر شروع شو اوګوره کنه بچے ډيره زياته ګڼه ده .

او کنه باباداخو ډيره زياته ګڼه ده خيال کوئ نو
هن بابا د مولوي صيب او احمد کاکا سره خبرې وکړه
رامداد خانه مبارک شه
خداې دې اوبخښه مولوي صيب

ډېر خوش قسمته ئې مولوي صېب .. ایله مي سعي شروع کړه. دے ته اوګوره کنه دا دصفا غونډۍ ده . حاجي صېب دسعي په دوران کښې د احمد کاکا او د جمات د امام صېب سره د کور کلي او چم ګاونډ نه علاوه دجمات په مختلفو مسلو هم ښه ډېر ګپ شپ اولګولو او چې خبرېدو نو سعي هم په ختمېدو وه.

حاجي صېب د سعي نه پس سر کوډا کړو . د کور کلي نه ورته خلقو د مبارکۍ او دعاګانو د پاره وخت په وخت ټيلي فون کولو او بيا هغه ورځ هم راغله چې حاجي صېب د عمرے نه واپس د کلي په لور روان شو.

کلي ته د رسيدو نه مخکښې حاجي صېب دانش ته اووې .. هلکه د خېرات بندوبست وکړه خلق به مبارکۍ له راځي چرته بې عزته نه شو

بابا نو پيسے خو نشته خېرات به په څۀ کوؤ دانش ورته رو غوندې اووې

بچيه د عمرے نه مخکښې چې مو د قومي غر او د مقبرې کومي وني خرڅي کړي وې هاغه پيسې دې د مور سره

پرتې دي د هغې نه پیسې راواخله او ښه درون خېرات به اوکړې

بابا نو هاغه خو د کونډو یتیمانو مال دے او قومي امانت دے؟

د قومي امانت زویه.چې زۀ درته څۀ ویم هغه وکړه

ښه بابا هر څۀ به اوشي اللّه مو په خېر راولهٔ. دانش ورته تسلي ورکړه

حاجي صېب چې د عمرے نه رااورسیدو نو په حجره کښې په سمبال کړي کټ کښې کیناستو بالختونو ته ئې ډه ډه وهلیوه او خلق چې به راغله نو مختلفي قصې به ئې ورته راواخستې –

زه چې ورله مبارکۍ له لاړم نو په خبرو اترو کښې مې ورته اووې چې یره جي حج او عمره په ځوانۍ کښې پکار وي ګران کار دے

نو حاجي صېب راته اووې

یره خبره دي ټیک ده خو د اللّه احسان دے زۀ نه خو په طواف پوهه شوے ووم او نه په سعي کښې ستړے شوے ووم

... هر څۀ ډېر په اسانه شوي وو ..ځکه خو مې دا خېرات کړے دے ما وے چې د اللّٰه شکر ادا کړم

# ایموشنل بلیک مېلنګ

د خپلې ناسکه مور نه د نفرت په وجه چې دانیال او عبید په ډک بازار کښې وچ په ناحقه د خلکو د وړاندې د خپل پلار سره شر اوکړو. نو خلق ئې د خلاصون په غرض مینځ ته راغله. د پلار او ځامنو تر مینځه جنګ ختم شو خلقو په دانیال او عبید دواړو باندې بد ووئیله . زۀ ورله هم خواته ورغلم او ورته مې ووئیل چې د پلار نه مو معافي اوغواړئ خو دانیال او عبید په جواب کښې ووئیل چې د ده نه به اوس مونږ معافي غواړو ... دے ولې زمونږ نه معافي نه غواړي .

د دغه خبرو نه پس دانیال او عبید نیغ کور ته راغله دکور لوي واړه په شریکه ډوډۍ ته ناست وو . د دانیال ښځې بلال ته په غوږ کښې ووئیل چې ته کوز سر تهکیښنه چې پلار دې در سره هم ډوډۍ ته کیښني

د دانیال مشر زوي بلال د مور د خبري اوریدو نه پس خپل پلار دانیال ته  ووې  بابا دکټ دے پیاړمي تهکیښنه مونږ اوس نه شو پاخیدلې لږ به وختي راغلې وے ډوډئ له .

دانیال غلے شانتي د کټ پیاړمې تهکیښناسو او بیا د خوراک په وخت بچو ته لګیا شو.پوتږے عقل درپکښې هم نشته مشران همیشه په کټ کښې بر سر تهکیښني .دا تاسو زما سره څنګه سلوک کوئ اللّه به درنه ناراضه شي. په مشکواة کښې یو حدیث دے .. د اللّه رضا د پلار په رضا کښې ده او د اللّه ناراضګي د پلار په ناراضګۍ کښې ده...

بچو چې ئې دا واوریده نو په خندا شوه . وے ئې بابا ایموشنل بلیک میلنګ به نه کوے .....استغفراللّه

❦ ❦ ❦

# اسماني رشتې

نن چې هغهٔ شاهد ته د خپلې مینې ارمانونو د نیمګړې خوبونو قیصه شروع کړه نو د شاهد سترګې د اوښکو نه ډکې شوې.د خولې نه ئې بې واره اسویلې اووتل او بیا چې ترې کله هغهٔ تپوس اوکړو نو اول خو ئې خبره اخوا دېخوا کوله خو لږه شبېه پس ئې بیا په ژړغونې اواز کښې اووې چې ګوره زړګیه! زهٔ څهٔ لیونے خو نهٔ یم.دا خو د تقدیر لیک دے د ازل فېصلې دي.د انسان د وس نه بهر ده.ځکه چې رشتې په اسمان جوړیږي او بیا ئې په خندا خندا کښې اووې "سمینې مبارک شه سمینې مبار شه. . . .

هغهٔ ترې بیا تپوس اوکړو چې هلکه دا سمینه څوک ده؟ شاهد هغهٔ ته مخ راواړولو وې ئې چې د نن نه څو کاله وړاندې کله چې ما په نهم کښې سبق وئیلو نو هغهٔ وخت. . بیا ئې خبره په نیمه کښې پرېښوده.هغه ترې یو ځل بیا تپوس اوکړو چې هلکه مخکښې څهٔ اوشو؟ او هم دغسې شاهد په مات زړهٔ د خپل نیمګړې ارمانونو قیصه شروع کړه.

سمینه او ګُل مینه دواړه خوېندې دي.دواړو په یو کلاس کښې سبق ووئیلو په سبق کښې دواړه د شاهد نه یو کال روستو وې.او چې کله به ورته هم په سبق یادولو کښې څهٔ مشکلات راتلهٔ نو د شاهد نه به ئې مدد غوښتلو.دا سلسله د وړوکوالي نه شروع وه.نن بیا لکه د نور کله په شان دواړه خوېندې د شاهد کورته راغلې.او ورته ئې د سوالونو د حل کولو دپاره اووې.شاهد ورته اووې چې کهٔ تاسو پوهېدل غواړئ نو زهٔ به ستاسو د دواړو په مېنځ کښې کښېنم چې تاسو دواړو ته ښکاري.هغوي هم دغسې اوکړه.

پلار چې ئې کله شاهد د سمینې او ګُل مینې سره دومره نېزدې اولیدو نو ورته په قهر شو چې ګوره دا د پښتو ملک دے سبا به دا خلق څهٔ وائي؟ ځکه چې سمینه او ګُل مینه خو اوس پېغلې جینکۍ وې.سبا به چا مړ کړے ئې او بیا د تهمت داغونه په لمن وړل دومره اسان نه دي.په تا کښې دومره حیا هم نشته.او هم د دغې ورځې نه په شاهد باندې د پلار د طرفه د سمینې سره په مبلاوېدو پابندي اولګېده.خو شاهد سمینه چېرته هېرولې شوه.د هغه په زړهٔ د سمینې

تصویر جوړ شوے وۀ.همیشه به ئې د سمینې خوبونه لیدل.په خیالونو کښې به ئې همېشه د سمینې سره خبرې کولې خو ولې تر اوسه پورې شاهد سمینې ته د خپلې مینې اظهار نۀ وۀ کړې.

نن ئې په زړۀ کښې راغله چې کۀ هر څۀ وي خو نن به سمینې ته د خپل زړۀ حال وایم.

نن دواړه خوېندې چې کله د سکول نه واپس کورته تللې نو شاهد د خپل ماشوم رور په لاس سمینې ته خط ورکړو خو هغۀ په ویره کښې وۀ چې یره هسې نه چې خط ئې چېرته بله خور اونۀ ګورې.خبر بیا ئې ځان د حالاتو مقابلې ته تیار کړو.او د خط په ذریعه ئې ورته د زړه حال اووې.

سمینې هم د شاهد سره په زړۀ کښې ډېره مینه لرله.ورځې تېرېدې دواړو یو بل سره د خطونو په ذریعه ملاقاتونه کول.خو بیا یوه ورځ د سمینې پلار هم د شاهد او د سمینې د خطونو په ذریعه د تعلقاتو نه خبر شو او سمینه ئې اورټله.او ورته ئې ووې چې که د نن نه پس دې د شاهد سره رابطه وکړه نو ښه به نۀ وي.

سمينه اوس پرېشانه وه ځکه چې يوا ړخ تـه ئې د پـلار حکم وو او بـل اړخ تـه د هغې مينـه . د دواړو رابطې تـر ډېرې مودې د يو بل سره ختمې شوې وې.د قدرت شان تـه اوګوره چې هـم پـه دې دوران کښې د سمينې پـلار بيمار شـو او پـه هسپتال کښې داخل شو.او شاهد ته د سمينې سره د ملاقـات لارې يو ځل بيا هوارې شولې.

خو بل اړخ ته د شاهد د پلار د خپل بچي د مستقبل غم وۀ او د هغۀ ځاے نه ئې خپله بدلي اوکړه.شاهد چې کله خبر شو چې د هغه د پلار بدلي پېښور تـه اوشوه اوس بـه هغۀ د سمينې سره نۀ شي مېلاوېدے نو ټوله شپه ئې پـه کټ کښې پـه ژړا تېره کړله.

مور چې ئې د شاهد دا حالات اوليده نو ورته ئې اووې چې ګوره بچے تۀ ولې خفه کېږے سبا به زۀ ستا د رشتې خبره د سمينې د مـور پـلار سره اوکـړم.د شـاهد مـور پـلار چـې د سمينې د مـور پـلار سره د شاهد او د سمينې د رشتې خبره وکړه نو هغوي ورته اووې چې ګوره اوس لا هغوي ماشومان

دي.سبق وا ئې او چې کله په خپلو پښو باندې اودرېږي نو د خپره سره بیا به هر څۀ اوشي.

اوس د شاهد او د سمینې ملاقات ډېر ګران شوے وۀ ځکه چې دواړه په جدا جدا کلي کښې اوسېده.شاهد چې دولسم پاس کړو نو په کالج کښې ئې داخله واخسته.دوه کاله د نرسنګ ټریننګ ئې هم اوکړو او د ټریننګ نه چې فارغ شو نو د نوکرۍ د مېلاوېدو پورې به هغه خپل وخت په خپل دوکان کښې تېرولو.

په دې دوران کښې د سمینې د رشتې ډېرو خلقو تپوسونه کول چونکه د شاهد د غاړې څۀ استازې رانۀ غلې نو پلار ئې د سمینې رشته د هغې د ترۀ د زوي نوید سره اوکړه.سمینه په دې رشته ډېره زیاته خفه وه.خو پښتنې پېغلې د مور پلار په فېصلو کښې څۀ کولې شي.په خپل نصیب ئې صبر راوړو.

خو بل اړخ ته شاهد تر اوسه پورې د سمینې خوبونه لیدل او په زړۀ کښې ئې خپلو امېدونو او نیمګړي ارمانونو له

رنګونه ورکول.چې اوس به د خېره سره زۀ په خپلو پښو اودرېږم ماته به نوکري مېلاوه شي.بیا به د خېره سره زما مینه زما شي.بیا به زۀ د دنیا د ټولو نه خوش بخته انسان شم.

هم دغۀ رنګې شاهد پنځه کاله پس نن هم په خیالونو کښې ډوب وۀ چې ناڅاپه ټیلي فون غوغا جوړه کړه.شاهد چې کله ټیلي فون اوچت کړو نو د هغۀ په غوږونو کښې کړنګا شوه.د لاسو نه ئې ټیلي فون اوغورزېدو او د ډېر خفګانه په کټ راپرېوتو.دغه وخت کښې هغه هم د نوید سره ناست وۀ تپوس ئې ترې اوکړو چې یره اخر څۀ شل اوشو ماته خو اوایه کنه.شاهد قدرې دومره اوې چې رشتې په اسمان جوړېږي.او بیا غلے کښېناستو.یوه شېبه پس ټیلي فون راغے.

دا ځل سمینې شاهد ته د هغې په وادۀ کښې د شرکت بلنه ورکوله په شاهد باندې دا خبره د ټوپک د ګولۍ غوندې اولګېده.ځکه چې دې خبرې د هغه په زړۀ کښې د هغۀ ټول ارمانونه دفن کړل خو هغۀ بیا هم د خپلې مینې او د خپلې سمینې د زړۀ د ساتلو دپاره هغې ته دومره اووې چې سمینې

زۀ خو نه شم درتللې خو تاته دې ستا خوشحالي مبارک شي.مبارک شه سمینې مبارک شه. . . . خدا ے خبر چې د شاهد د خولې نه به سمینې ته د مبارکۍ دا الفاظ څنګه راوتلي وي .

د ثمینې چنغول نوید د شاهد د خوا نه پاسېدواو په درنو قدموو روان شو

# خلاصون

سردار او ګلزار دواړه خواږۀ دوستان هم وو او ورسره د ترور ځامن هم.نازکه د سردار او ګلزار د ماما لور وه.ګلزار د وړوکوالي راسې د ماما کره وۀ او سبق پرې هم ماما وئیلو.د نازکې او د ګلزار د یو بل سره ډېره مینه وه خو بل اړخ ته سردار هم د نازکې د خپلولو خوبونه لیدل.

ګلزار او سردار دواړو د پېښور په زرعي یونیورسټۍ کښې سبق وئیلو او دواړه په یو هاسټل کښې اوسېدل.ګلزار به په هاسټل کښې نورو هلکانو ته د خپلې مینې په باره کښې خبرې کولې او د نازکې د طرفه راغلي خطونه به ئې ورته ښودل.او په دغه خبرو به ئې زړۀ ته ډاډګېرنه ورکوله.د سردار بل وور جنت ګُل هم په دغه پوهنتون کښې سبق وئیلو او کله کله به ئې سردار او ګلزار ته نصیحت هم کولو چې داسې مۀ کوئ خلق راپورې خاندې خو سردار او ګلزار چرته منله

سردار چې کله خبر شو چې ګلزار د نازکې په باره کښې د هاسټل نورو هلکانو ته خبرې کوي نو په زړۀ کښې ئې

اور بل شو او ګلزار ته ئې د سبق ورکولو دپاره موقع لتهول شروع کړه.

دا د هاړ میاشت وه سرۀ غرمه وه،د ګرمۍ دا حالات وو چې په پتهو کښې به د سختې نه خراړې ورتېدلې.د هاستهل تهول هلکان په خوب اودۀ وو.په دې کښې ناڅاپه ګړز ګړوز شروع شو.داسې ښکارېده لکه چې په شین اسمان تندر راپرېوتے وي.هلکان چې د کمرے نه راووتل نو څۀ ګوري چې سردار دګلزار دکمرې مخې ته ولاړ وو دروازه ماته وه او خوا ته ئې ګمله چوري چوري پرته وه.ګلزار چې د کامن روم نه واپس راغے او د کمرې دا حالت ئې اولیدو نو زر زر ئې وارډن ته شکایت اوکړو.وارډن د یو بل نه تپوسونه اوکړل خو هیچا هم حال نه ویلو چې دا کار چا کړے دے.په دې وجه وارډن د هاستهل د تهولو هلکانو د جرمانه کولو فېصله اوکړه.سردار دا هرڅۀ لیدل.هغه کۀ یو اړخ ته ګلزار ته د غصې نه سور وۀ نو بل اړخ ته هغۀ د هاستهل هلکان په ناحقه جرمانه کول نۀ غوښتل.او هم په دې وجه ئې اقبال جرم اوکړو.وارډن پولیس رااوغوښتل.خو سردار پولیسو ته د ځان حواله کولو نه

مخکښې د هاسټل نه اوتښتېدهٔ.پولیسو د سردار په ځاے د هغه ورور جنت ګُل ګرفتار کړه .

جنت ګُل د پوزي دپاسه یوه شپه په جېل کښې تېره کړه.او بیا سبا له سردار هم ځان پولیسو ته حواله کړو.د ډېرو کوششونو نه پس د دواړو ضمانت اوشو .

د سردار او ګلزار مور پلار او د کلي ټول خلق د دې قیصې نه خبر شو.د نازکې پلار خپله بدنامي نهٔ غوښتله او په دې وجه ئې د نازکې سره د سردار او د ګلزار په ملاقات پابندي اولګوله.خو نازکه به بیا هم د ګلزار سره کله کله مېلاوېدله.

ورځې شپې تېرېدې څو کاله پس کله چې ګلزار د سبق نهٔ اوزګار شو نو مور ئې ورله د نازکې د مور نه د نازکې رشته اوغوښتله.سردار ډېر کوشش اوکړو چې نازکه دې د هغه نه بغېر بل چاله نهٔ ورکوي خو ولې د نازکې مور پلار د نازکې او د ګلزار په وادهٔ راضي وو.ګلزار د وادهٔ تیاریانې شروع

کړي.حجره ئې چونه کړه او په کور کښې ئې هم رنګونه اوکړل او بیا ئې د وادۀ نېټه مقرره کړله.

سردار دا هر څۀ په زړۀ برداشت کوله.د ځان سره ئې دا کرل ربېل کوله چې ښنګه به زما د ارمانونو ډولۍ د بل په کور ورننوځي او بیا هغه ورځ هم راغله چې د پټاسونو په ډزو کښې د سرنا ډمامو سره ګلزار د خپلې ډولۍ نه مخکښې روان وۀ.سردار دا ورځ کله لیدې شوه.په ټوپک کښې ئې ګولۍ کېښودلې شپیلۍ ته ئې پوکے ورکړو او بیا ئې د یو سوړ اسویلي نه پس ووې چې "څه الله دې مل شه"

او بیا ئې د وادۀ په جنج په دے غرض هوائي ډزې وکړے چې خلق د یرې نه اخواه دیخواه شي اوهغه د خپل خفګان او ناکامۍزور د ګلزار نه اوباسي. خلقو یو بل ته وار خطا وارخطا کتل.چې دا ډزې خو د څۀ نه خالي نه دي سردار غوښتله چې د ګلزار په کور واله باندې دغه ښادي اوورو‌سکور کړي او د واده په هلک ئې رسا ډزې کولې خو

جنت ګُل تري ټوپک واخستو او خپله کورنۍ ئې د يوے نه ختمېدونکي دشمنۍ نه بچ کړه

نازکه چې د سردار د ډزو د قيصې نه خبر شوه نو د واده په سره جوړه کښې خپلې ترور ته ورترغاړوته او په ژړا کښې ورته لګيا شوه چې که جنت ګُل خلاصون نه وې کړې نو نن به زما د ارمانونو دنيا ورانه شويوه .

# فیصله

د شپې د تورې تیارې سره د برېښنا په زړهٔ هم یوې نامعلومه خو ژورې تیارې خپل ځانګونه راخورول . د هغې اواز نن هغسي نه وو ځنګ چې به مخکښې وو.نن د هغې اواز د ژړا او وېرې د وجې غلې وو خو دغه غلې اواز د کوټې په دیوالونو کښې لکه د انګې خور وو . او په دغه ژړغوني اواز کښې هغې خپلو همزولو ته، چې د هغې خواوشاو لکه د هغې په وېره او حیرانۍ ناستې وې، اووئیل:

تاسو به وایئ چې زهٔ خوشحاله یم زما واده دې

یوه ورځ به راشي ستاسو به هم نوې ژوند شروع شي د پلار د کور نه به لکه زما رخصت شئ.خو بیا ئې زر غوږونو له لاس یوړل وې ئې الله دې نه کړي چې ستاسو نوې ژوند هم لکه زما شي

نوري همزولي ئې خبر وې خو ګُل اندامه ناخبره وه وې ئې چې هغه څنګه ؟

همزولو ئې ګُل اندامه منع کړه چې چپ شه داسې تپوسونه مهٔ کوه خو برېښنا سمدستي ګُل اندامي ته مخ راواړولو.د برېښنا په شونډو لباسي خندا خوره وه خو د هغې سترګې د اوښکو په طمع وې، او هغې خپل دغه درد په زور کنټرول کړې وو . همزولو ئې يو بل ته کتل، د هغوي زړونه د برېښنا د قيصې په اورېدو سره درزېدل، خو هيڅ يوې د خبرو جرأت ونه کړو. برېښنا بيا وويل

"زما مور او پلار د هغه د شتمنۍ او حيثيت په رنګين خوبونو کښې دومره ړانده شوي وو چې دې ته ئې هم نه کتل چې زهٔ به خوشحاله يم که نه؟ او بيا په ژړا شوه.

کله چې هغې ژړل،نو همزولو هغه ونيوله او په زړه کښې ئې وې.چې په کومه لاره دا روانه ده او کوم قسمت چې د دې انتظار کوي کاش چې دا ئې قسمت نه وې.

ګُل اندامه اوس هم پوهه نه وه خو همزولو ورته قیصه راواخسته سره د تعلیم او پوهي بریښنا د مور او پلار د خوښي او خواهشاتو مخي ته بې بسه ده او هم دغه بې بسیوه چې مور پلار ئې د بریښنا کوژدن د کلي د یو شتمن سړي د زوي سره په دې غرض وکړه چې د زمکې خاوند دې ، حالانکې د بریښنا مور پلار ته پته وه چې زوم ئې په کور کلي کښې د ذهني رنځور په توګه پېژندلې کیږي خو د بریښنا مور او پلار، د هلک شتمنۍ او حېثیت دومره ړانده کړي وو چې دا ئې هم نه کتله چې لور به ئې خوشحاله وي کنه او راروان ژوند به ئې ښکلی وي.

د بریښنا د ژوند قیصه لا ختمه نه وه چې د همزولو ګُل اندامې او د بریښنا سترګې د اوښکو ډکې وې خو بریښنا بیا هم د ناخوالۍ خندا کښې اووې چې د مور او پلار سوچ مې دا وو چې ګڼې د سرو زرو په دغه پنجره کښې به زۀ خوشحاله یم خو!!!

خو هغو ته څۀ پته ده چې زۀ ډوبه شوم زما ژوند لاړې برباد شو .

د هغې اواز داسې وو لکه چې څوک چا ته په ژړغوني اواز کښې پته خبره کوي.وې ئې چې داسې به چرته هم نه کېده خو کاش چې يا خو زما مور پلار پوهه لرلې او يا زۀ هم تر څۀ حده ازاده وې ؟ نو نن به د سرو زرو په دغه پنجره کښې بندي کېدو له نه تلې.

همزولو ورله دلاسه ورکوله او غوښتل ئې چې د دغه مسئلې څۀ حل را اوباسي خو هغې ورته اووې چې چپ شئ د پښتنو معاشره ده د مور پلار نوم خو نه شم بربادولې دغه شتمن ذهني رنځور او د سرو زرو دغه پنجره به الله زما په برخه کښې ليکلې وي اوس زما مور او پلار زما د ژوند فېصله کړې ده. ما له پکار ده چې زۀ د د غه ذهني رنځور سره ژوند تېرول زده کړم . . . .

# منافقت

جبران د عدالت په بار روم کښې يواځې ناست وو.په فېسبک ئې پوسټ وليکلو

"مونږ له پکار ده چې د ظلم خلاف اواز پورته کړو او د ژوند په هر ډګر د مظلومانو سره اوږه په اوږه ودرېږو "

د پوسټ نه پس د جبران ملګرو او هغه د چا خبره چې د جبران صېب مينه والو د هغه په دغه پوسټ کمنټونه شروع کړه خلقو ورله ډېره زياته ډاډګېرنه ورکړه او هفه ئې ډېر اوستائيلو !!!!!!!!

چا ورته وې زنده باد وکيل صېب
چا وې ډېر ښه مشره
چا وې قربان
چا وې داسې خلق دي ډېر شي
چا وې مونږ دې ملګري يو
چا وې ژوند ژوند

چا وې کم دې نو که داسې اوشوه نو هر څۀ به ټیک شي

او ځینې ملګرو خو لا د جبران په دغه پوسټ د هغه د تصویر سره دا سندره هم ولګوله چې !!

دې خاورې له یو داسې ننګیالي سړې پکار دې

هغه لا د خلقو د کمنټونو جوابونه ورکول چې په دې کښې شاه طماس خان سره د نوکرانو بار روم ته راننوتو

سترړے مۀ شے خان.جبران ورته وې راځئ کینئ

خواره مۀ شې.شاه طماس خان وې هلکه ولې یواځې ناست ئې.

جبران ورته وئیل جي بس د قام غمونه دي څۀ وکړو په هغې کښې بوخت ووم

شاه طماس خان ورته اووې ښه ښه !!! دا خو ډېره ښه خبره ده که زما لائق څۀ وي نو بیا وایه

جبران ورته اووې خان څۀ نشته . . که څۀ وو نو وایم
به درته خو اوس راته دا ووایه چې څنګه دي راپېښه وکړه
جبرا

شاه طماس خان لګیا شو وې ئې چې زمونږ دیقان پرون
چرته د رحمت خان پوله وهلیوه.پوره جنګ جوړ شوې وو
زمونږ کسانو پکښې د رحمت خان زوې هم وهلې وو ګناه مونږ
ته وه.خو د رحمت خان دومره جرأت چې زما دېقان او زما کشر
رور ته ئې لاس وراچولې وو .

د جګړي نه پس څۀ کسانو راته وئیل لاړ شه په رحمت
خان ننواتې جرګه وکړه خو دا خبره په ما بده ولګېده ما ورته
وې چې زۀ به ایله بیله په رحمت خان ننواتې او جرګې
کومه.اوس مې تري زمکه په وچ کلک زور نیولې ده خو پرون
راپسې د رحمت خان د طرفه د سول جج د اړخه استازے
راغلې چې عدالت ته حاضر شه نو ما وې چې په دې لانجه
کښې ته زما وکالت وکړې.

جبران چې د شاه طماس خان خبره واورېده نو تسلي ئې ورله ورکړه.وې ئې خان دا خو وړه خبره ده.کیس به درله د خېره سره وکړم غم مۀ کوه.دوه لاکه روپۍ زما فیس دې ګواهان ځان له برابر کړه نور دې زۀ پوهه کوم.چې مخکښې به څۀ کوؤ.

شاه طماس خان چې د جبران نه رخصت شو نو بیا ئې په خپل پوست باندې د ملګرو د کمنتهونو جوابونه شروع کړل
—

# نوے کور

جمیل چې د نوي کور په درشل ورننوتو او په شا ئې وکتل نو نه خو د هغه وروڼه په نظر راتله او نه ئې وربېرونه او نه نور رشته دار حالانکې جمیل دا نوې کور ډېر په مینه په دې غرض جوړ کړې وو چې اوس د هغه لوڼه او وربېرونه لوي شوي وو او په یو کور کښې ئې ګزاره ګرانه وه.او هغه غوښتل چې نوې کور جوړ شي نو ټول به په راحته شي.

جمیل د ډېر وخت پوري په شا شا کتل او په سترګو کښې ئې رڼې رڼې اوښکې هم اوړېدې رااوړېدې ناڅاپه ورله د هغه وړوکي لور ګُل څانګې لاس ونیوؤ.بابا راځه ولي ولاړ ئې

جمیل چې د خپلې وړې لور اواز واورېدو نو مسکې شو او خپلې اوښکې ئې پاکې کړې.

د جمیل په سترګو کښې د اوښکو په لیدو د جمیل لوریاني په یو اواز ګویا شوې.بابا ته ولي خفه ئې.بابا ته ولي ژاړې ؟

بچې ما خو وئیل چې وروښه به مې راپسې هم خفه وي او پلار به هم راته په ژړا کښې وائي چې بچې ته ولي ځې مونږ به درپسې ډېر خفه یو خو !!!!

خو بچې داسې وه نه شوه.او ژړا ځکه راځي چې زۀ کله په سمندري جازونو کښې افسر شوم، نو خپل پلار ته مې ووئیل چې بابا بس اوس تاسو د جازونو دا ګرانه نوکري پرېږدئ زۀ اوس د خبره سره ډېرې ګټم.زمونږ د ټولو ګزاره به پرې کېږي.او هم دغسې وشوه بابا د جازونو نوکري پرېښوده.ما به ورته بلها روپۍ رالېږلې او بابا په کلي کښې د خوند رنګ ژوند تېرول شروع کړه دغسې بلها کلونه تېر شوه.په دې دوران کښې ما د ژوند ډېرې تودې سړې ولیدې.او بیا هغه ورځ هم راغله چې بابا ما له واده وکړو د واده نه پس زما ذمه واري نوره هم زیاته شوه.یو خوا راته د خپلو خوئندو

رونبو د ودونه ذمه واري مخې مخې ته کېده او بل خوا خپلې خرچې او ذمه وارۍ وې.خبر دا هر څۀ ما سر ته ورسوله او د خوئیندو وروڼو ودونه وشوه.

ما به د خپلو وروڼو او د هغوي د کورنیو سره هر قسمه مالي مرسته کوله تر دې چې په ټولو ورېرونو باندې سبق هم ما ویئلې وو ډېر په خندا خوشحالۍ ئې ژوند تېرېدو.زما وروڼه هم ښه خوشحاله وو ځکه چې ژوند ئې ډېر په راحت او سکون سره تېرېدو.زما ورېرونو او وروڼو خوئیندو به ټولو زما ډېر خیال ساتلو.مال دولت ډېر وو په کور کښې د څۀ کمې کوزې نه وو او هم دغه وجه وه چې خلیل او جلیل به څۀ کار روزګار نه کوؤ.ما غوښته چې زما وروڼه دې کارداره او خودداره شي خو خلیل او جلیل د تیارې خوند اخستې وو دغه مزې ئې چرته پرېښودې شوې او چې کله به ورته ما په دغه اړه یادګېرنه وکړه نو وروڼو او مور پلار به راته د جذباتو نه ډکې خبرې اوکړې او خبره به بیا هغسې پاتې شوه ځکه چې ما نه غوښته چې زما او زما د وروڼو په مېنځ کښې دې تاؤ تریخوالې راشي.

کشر ورورخو بیا ښځي څۀ کار روزګار نه کولو پلار ته به هر وخت لګیا وو چي زۀ ځانله کاروبار شروع کوؤم خو پیسي راسره نشته.بابا هم چي ډېر تنګ شو نو په **۵** کروړه روپۍ ئي د کلي زمکه خرڅه کړه خلیل او جلیل له ئي تري ۲ ، ۲ کروړه روپۍ ورکړي او ځانله ئي پري کاروبار شروع کړو خو ما له ئي تري هیڅ هم را نه کړه په دي غرض چي زۀ خو هسي هم ډېري ګټم.زۀ پخپله هم په دي ډېر خفه ووم خو پلار ته مي څۀ نه شو وئیلي.

د پټي د خرڅ نه پوره دوه کاله روسته بابا بیمار شو ډاکټرانو ورته د زړه د اپرېشن اووي.په اپرېشن ئي په لکهونو روپۍ خرچه راتله.بابا درېواړه ځامن کېښنول او مونږ دري واړو ته ئي اووي چي هغه یو پټي وو هغه خو مو هم خرڅ کړي دي.اوس زما اپرېشن دي ؟ زما سره خو هیڅ هم نشته د اپرېشن د پاره.

د دې خبرې د اورېدو سره خليل او جليل دواړو يو بل ته وکتل او په يو اواز کښې ئې اووې بابا غم مهٔ موه جميل شته کنه؟

ما ورونو ته اووې چې غم مهٔ کوی، تاسو چې پکښې څومره کولې شئ وکړئ ځکه چې ستاسو کاروبار وس ډېر ښه روان دې پيسې راواخلئ ماله ئې راکړئ باقي چې څومره پاتې شي هغه ټولې به زهٔ برداشت کړم خو خليل او جليل راته اووې چې زمونږ سره څهٔ دي زمونږ خو تاته سترګې دي .

بابا چې دا واؤرېده نو سخت خفه شو خو ما ورته اووې چې بابا غم مهٔ کوه الله به خبر کړي

اپرېشن وشو بابا بيا د خېره روغ شو خو سره د دې چې ما د بابا د علاج د خرچې نه انکار هم نه وو کړې بس قدري نورو ورونو ته مې د بابا د علاج د پاره د هغوي د مرستي د پاره وېنا کړېوه خو بابا بيا هم زما نه خفه وو خداي خبر ولې !!! خبر دغه وخت کښې زما سره هم د جيب خرچه ختمه شويوه.جهاز ته لاړم او دا ځل مې ځانله د جدا کور جوړولو

فېصله وکړه ځکه چې اوس په مونږ د شريکي کور هم تنګ شوې وو او هر وخت به د ورو په سر جنګ جګړه وه.

زما د پاره لږه ګرانه وه ځکه چې يو خوا ګرانيوه بل خوا په يونيورستۍ کښې د ورو فيسونه وو د کور کلي غم ښادي او د کور نوره خرچه هم ښه ډېره وه.خېر ما پخه اراده کړيوه چې په په ځان به سخته تېروؤم خو نوې کور به جوړوم او اخېر دا چې پوره درې کاله کښې مې کور تيار کړو .

د کور جوړېدو نه پس مې بابا (پلار ) ته په ټليفون وئيلي وو چې دا ځل زۀ کلي ته درشم نو نوي کور ته به کډه ورو زۀ په زړه کښې ډېر خوشحاله ووم چې کور تيار دې اوس به د خېره زۀ هم په راحته شم او زما ورونړه هم.خو ما ته څۀ پته وه چې نوي کور ته د کډې ورلو نه مخکښې به راسره پلار او ورونړه خبرې هم بندوي او ټګ راټګ به راسره هم پرېږدي او هم دغسې وشوه کله چې زۀ د جهاز نه واپس کور ته په چټهۍ راغلم نو زما ورونړه او ورېرونو لکه د نور کله په شان زما هرکلي له ائرپورټ ته رانغله.تر دې پورې چې زۀ کور ته

راورسېدم نو په کور کښې راته وربرونو سترې مشې هم اونه وې.

د ورونو وربرونو په رويه کښې دې ناڅاپي بدلون ځه دومره خفه کړم چې په دې توره شپه کښې مې د خپل زوړ کور نه نوي کور ته کډه راوړه.او ژاړم ځکه چې ما په زړه کښې وئيل چې ورونه به مې راپسې هم خفه وي او پلار به هم راته په ژړا کښې وائي چې بچې ته ولې ځې مونږ به درپسې ډېر خفه يو.

دا خبره مې لا ختمه کړې هم نه وه چې د لونو په مخ مې هم رنې رنې اوښکې رارواني وې .

❦ ❦ ❦

# باور

د خپلو د لاسه د پرله پسي دهوکې خوړلو نه پس د نعمان زړهٔ دومره مات شوې وو چې په لېن دین کښې به ئې په چا هم یقین نهٔ کولو.دغې پېښو د نعمان ژوند ته دومره زیان رسولې وهٔ، چې هغه به د ژوند هري لاري ته د غېر یقیني صورت حال په سترګه کتله.د خیانت ، دهوکې او لالچ د اوږدمهاله صدمو نه راوتلي نعمان اوس غوښته چې په تېر شوي ژوند کښې د هغه نه کومي غلطۍ شوي دي هغه بیا ونه شي او هم دغه وجه وه چې هغه به څهٔ کار هم کولو نو ډېر سوچ به ئې پري کولو.او باور خو به ئې په چا هم نه کولو.د بې باورۍ د دې دوامداره حالت د وجي د نعمان او ګُل ښانګي تر مینځئته هم تاؤتریخوالي پېدا شو.

نن مابنام، کله چې د کور په یو ګوټ کښې نعمان په خاموشۍ ناست وو او د خپل تېر ژوند توري خاطرې ئې ذهن ته راتلي، ګُل ښانګې په نرم اواز ووېل:

"نعمانه! ولې زما نه خفه ئې که ؟"

نعمان ورته په سړه سا جواب ورکړه: "نه زۀ نۀ یم خفه، خو ته ولې داسې ښکارې لکه چې یو راز دې په زړه کښې پټ کړې وې ؟"

ګل خانګه لږ ساعت له غلې وه خو ، بیا ئې په ورو اواز وویل: زۀ غواړم چې ته خپل جائیداد زما په نوم کړې،ستا د بچو او ورونو څۀ پته لګي سبا به ورسره څۀ اخوکي په مخوکي یم

د ګُل خانګې دې خبرې د نعمان په ذهن کښې د زوړ زخم تنهاکه بیا راوپړسوله. د هغه ذهن یو ځل بیا د تېر ژوند هغو شېبو ته لاړې، کومې چې د هغه د پاره ډېرې دردناکې او غمژنې وې

نعمان ورته په جواب کښې قدرې دومره وویل: " نه، ګُل خانګې، دا ممکنه نه ده."

ګل خانګې ترې هم په حیرانتیا سره تپوس وکړو: "ولې؟ ولې راته انکار کوې؟"

نعمان یوه اوږده سا واخیسته، د هغه په اواز کښې یو عجیب درد وو: زهٔ وېرېږم، ګُل خانګې.وېرېږم هسې نه چې ته هم د هغه نورو په لاره لاړه شې."

"هغه نور؟ څهٔ مطلب ؟" ګُل خانګې بیا تپوس وکړو

نعمان بیا د یوې شېبې د پاره غلې شو. د هغه د سترګو مخې ته د تېر ژوند فلم چلېدو. بیا ئې د یو سوړ اسوېلې نه پس اووې

"ګل خانګې، ته نه پوهېږې. ما په ژوند کښې ډېر څهٔ لیدلې دي . زهٔ په سمندري جهازونو کښې کپتان ووم، ما بې‌حده پیسې ګټلې، خو نن که رانه پوښتنه وکړې، نو زما سره هېڅ هم نشته. او هغه ځکه چې ما په ژوند کښې یوه غلطي یو ځل نه بلکې یوه غلطي دوه ځله کړې ده.

"هغه څنګه؟" ګُل خانګې ترې په بې‌صبرۍ بیا تپوس وکړو

نعمان ورته دا ځل خبره په لنډو راتاؤ کړه

ګُل ثانګي ستا نه مخکښې ما دوه ودونه کړي وو.اولنۍ ښځې راته هم دغه خبره کړې وه او دوېمې ښځې هم کومه خبره چې نن تا وکړه.ما هغو دواړو ته انکار نه وو کړې خو تاته انکار ځکه کوؤم چې زۀ نه غواړم چې مونږ دې د یو بله بېل شو

هغه ښنګه . . ګُل ثانګي تري بيا تپوس وکړو

هغه داسې چې ما د خپلې اولنۍ مېرمنې سره د پنځو او د دوېمې ښځې سره د شپږو کلونو تېرولو وروسته چې کله اخستے شوے جائیداد او پلاټونه د هغو په نوم کړه نو زما نه ئې طلاق واخستو او زۀ هر ځل خالي لاس پاتے شوم.اوس ته وایه چې زۀ به په چا څۀ باور وکړم ؟

ښه نو تاته زۀ هم د هغوي په شان ښکارمه.ګل ثانګې دا ځل په خفګان کښې اووې

نعمان لا د ګُل ثانګي د خبري سپيناوي کولو خو خبره په خبرو کښې دومره لري لاړه چې ګُل ثانګه او نعمان پکښې د يو بل سره په جنګ شو .

ګل ثانګې په غصه کښې اوويل: "که ته زما دا خبره نه منې ، نو زۀ به دا کور پرېږم

نعمان چې د ګُل ثانګي د خلې نه دا خبره واورېده نو يو ځل بيا چوپ شو. د هغه زړه کښې يو ځل بيا د سوچونو او فکرونو طوفان راغې . د ځان سره لګيا شو چې آيا دا هم يوه نوې دوکه خو نه ده؟ آيا ګُل ثانګه به هم د تېر په څېر چل وکړي ؟ هغه په ذهن کښې يو خوا د خپلې مېرمنې پرېښودلو وېره وه او بل خوا د تېر ژوند تورې تجربې.

دغه شپه په کور کښې يو عجيبه سکوت وو. نعمان په خپلې کوټې کښې ناست وو ، خو د هغه ذهن ته بلها سوالونه تلل راتلل. کله کله به ئې اووې چې ما له په ګُل ثانګې باور پکار دې کنه دا يوه نوې لوبه ده؟ د شپې په تيارو کښې يوازې د ګهړۍ د ستنې د ټک ټک غږ اورېده شو ،بل خوا د

نعمان په زړه کښې د شک او باور ترمېنځ جګړه روانه وه او هم په دغه سوچونو کښې د شپې په اخري برخه کښې ئې سترګې ورغلې او اودۀ شو.

سحر، کله چې نعمان له خوبه راپورته شو، ګُل ځانګه په کور کښې نه وه. او یو خط ئې پرېښے وۀ خط کښې ئې لیکلي وو: "نعمانه، زۀ لاړم. که ته په ما باور نه کوې ، نو زما د پاره په دې کور کښې ژوند هېڅ معنې نه لري نعمان خط په لاس کښې ونیو، د هغه په سترګو کښې اوښکې راغلې،

خو ذهن ئې لا اوس هم په شک کښې ډوب وو. د ځان نه ئې بیا تپوس وکړو چې دا د هغه تېروتنه وه؟ که دا هم د تېر ژوند یوه بله برخه کېدې شوه؟

ناڅاپه، د کور بهر یو عجیبه اواز واورېدل شو — داسې ښکارېده چې لکه د چا د پښو غږ یا د یوې شیبې د پاره د څۀ سیورې وې نعمان په وېره سره دروازې ته وکتل، خو هلته هېڅ هم نه وو. نعمان ته پته نه لګېده چې دا د هغه د ذهن فریب وو؟ یا ګُل ځانګې په ریښتیا یو راز پرېښې وو؟

دې پوښتنو هغه یو ځل بیا په تیارو او شکونو کښې پرېښودو ، او د هغه ژوند یو ځل بیا د یوې نامعلومې لارې په لور روان شو.دا ځل د هغه په سترګو کښې یو سوال ولاړ وو: زۀ په چا او څنګه باور وکړم "مخکښې به څۀ کېږي ؟"

❦ ❦ ❦

# پېغور

ګل زاده چې نن کورته راننوتو نو مور ئې ورته اووې چې بس بچے د ژوند او مرګ هېڅ پته نۀ لګي سبا درله د پروین په مور تپوس کوم چې ستاسو د دواړو. . .

"ګُل زاده د مور خبره پرېکړه "خو مورې زۀ لا اوس. . . .
"

بس بچے چې مخکښې یو لفظ هم اونۀ وائې ستا ډولۍ خو زمونږه هم ارمان دے. د خبره سره چې پلار دې راشي نو هم نن درله د رشتې خبره ختمووم.

ګل زاده او مور ئې لا دا خبرې کولې چې په دې کښې د ګُل زاده پلار زمانے کور ته راننوتو .

"خبر خو دے دا بیا مور او زوي څۀ جرګه شروع کړې ده" میمونې ورته اووې "یه سړیه ښۀ ده چې راغلے، ما وې چې نن د دې هلک د رشتې دپاره لاړ شو."

زماني اووې ! "دا خو ډېره ښۀ خبره ده" تۀ ځان تیاروه زۀ د بهر مېلمانه رخصتوؤم نو بیا به ورشو."

میمونه خپلې لور ګُل څانګې ته لګیا وه

لورې یه لورې هله منده کړه "زما څادر راواخله او هن دا تور سینډل راله هم پالش کړه".

زماني چې مېلمانه رخصت کړل نو کورته راغے.د کټ بر سر ته کښېناست او اواز ئې اوکړۀ

"یه ګُل څانګې لورې! یو ګلاس اوبۀ خو راوړه او مور ته دې ووایه چې لږه زر تیاره شي" .

میمونې رامنډه کړه "زۀ خو تیاره یم څه چې څوخو لږ صبر چې دا اوبه خو د حلقه تېرې کړم"

او بيا لږ ساعت پس چې ميمونه او زمانے د زروري ترور کره راغله نو دواړهٔ خوېندې د نغري په غاړه ناستې وې زر راپاسېدې.

"کاکا جي السلام اعليکم،ښکلې ببو السلام اعليکم!" دواړه خوېندو ورته په يو اواز اووې "راځئ کښېنئ".

پروين بچے مور دې څهٔ شوه؟" ميمونې ترې تپوس اوکړو

پروين ورته اووې "اوس به راشي"

لږه شېبه پس زروري ترور کور ته راغله د راتلو سره ئې په کور کښې ميمونه او زمانے اوليدل.

"سترې مهٔ شې خور،څنګه ئې ،ښهٔ ئې ،واړهٔ ځاړه مو څنګه دي"زروري په يوه سا د ميمونې نه د حال احوال پوښتنه اوکړه.

"بنۀ یو خداے دي او بخښنه،تاسو څنګه یئ؟" میمونې ورته په جواب کښې اووې .

"ماما السلام اعلیکم!".زروري بیا زماني ته سلام اوکړو."وعلیکم السلام څنګه حال دے؟".زماني ورته اووې

او بیا زروري خپلې لور نسرین ته اووې چې "بچے ماما او ترور له دې څۀ چاے شربت راوړه کنه" .

زروري لا خبره ختمه کړې نۀ وه چې میمونې ورته اووې."خداے دې ئې شته کړي خورې هر څۀ ئې راله کړي دي".

هم دغه شان د لږو خبرو اترو نه پس میمونې زروري ته اووې."خورې! مونږ دې له راغلي یو چې ګُل زاده ستا جولۍ ته درواچوو.

زروري چې دا خبره واوریده نو ډېره خوشحاله شوه او ولې به نه خوشحالیده ځکه چې د هغې دوه پېغلې لوڼه په کور

ناستې وې په کور ئې نارينه اولاد نۀ وو او خاوند خو ئې ډيره موده وړاندې د دنيا نه مخ سر انغښتې وو

او بيا يو کال پس د ګُل زاده او د پروين د وادۀ نېټه هم مقرره شوله.او ښۀ په ډول سره د دواړو واده اوشو.

د واده نه وروسته د څۀ وخت پورې د ګُل زاده او پروين کور واله ډېر خوشحاله وو او مور به ئې هر چا ته د پروين خبرې کولې چې ډېره کارداره انګور مې ده.او پروين چې به د خواښې د خولې نه خپل صفتونه واورېده نو نوره به هم خوشحاله شوه.خو د پروين دا خوشحالې د هغه وخت پورېوه د کله پورې چې د ګُل زاده کاروبار ښه وو بلها مال ورسره وو خو بيا په ټوله نړۍ کښې د کرونا وبا راغله او ګُل زاده په کاروبار کښې ډېر زيات تاواني شو.او هغه اوس په کور کښې خرچه په هغه رنګ سر ته نه شوه رسولې کومه چې به هغه مخکښې کوله.

د مالي ستونزو سره د مخ کېدو نه پس په کور کښې د پروين ژوند هم ګران شو.ځکه چې اوس د کور د خرچ دپاره

هېڅ نه وو او د ګُل زاده څۀ هنر هم زده نه وو چې خپله مخه ئې شړلې وې او هم دغه وجه وه چې پروین د کلي د معتبر خلقو په کورونو کښې کار شروع کړو چا له به ئې کور جارو کولو نو چا له به ئې جامې وينځلې

ګل زاده هم لاس خپې وهلې تر دې پورې چې دیاړي ئې شروع کړه په دې غرض چې کورنۍ مسلې ورته نه جوړېږي

خو دیاړي به هم کله وه او کله نه.بل خوا د ګُل زاده رور شبر خان زاده ډېرې پېسې ګټلې او ځکه د ګُل زاده مور پلار د ګُل زاده نه زیات د شبر خان زاده او د هغه د ښځې او بچو خیال ساتلو.

پروین به ډېره ګزاره کوله او هېڅ فضول خرچي به ئې نه کوله خو د کلي غم ښادي ئې هم نه شوه پرېښودې.په زړه کښې ئې اووې چې اوس د خبره ګُل زاده هم څۀ نه څۀ ګټي او زۀ هم.دا ځل به ځانله نوې جامې اخلم

ګل زاده چې نن کور ته راننوتو نو پروين ورته اووې چې"يه سرېيه! زما خو هډو د تلو راتلو سمې جامې شته دې هم نۀ.هغۀ بله ورځ مې د خور په وادۀ کښې د برېښنا جامې اغوستې وې ما وې چې چرته يو ښائسته جوړه خو راله واخله".ګل زاده ورته لاښه هم نۀ وو کړې چې په دې کښې ئې پرې مور راغله او بيا په چغو ئې خوله رابرڅېره کړه."يه بچيه خبر دے کۀ مونږ لغړ شو خو دې د نواب لور له هر څۀ واخله چې مړه شي.دې دومره ګرانو خرڅونو ته اوګوره او د دې دې مستئ ته".پروين غلې ولاړه وه چې په دې کښې ئې پرې خواښې سترګې راوويستې."بټ سترګې څۀ له راته بټ بټ ګورې لاړه شه لوښي اووينځه،او بيا غوجل راپاکه کړه".

پروين د خواښې خبره چرته غوږزولې شوه د کوهي په غاړه کښېناسته او ټول لوښي ئې اووينځل.او بيا ئې غوجل هم پاک کړو"

ورځې شپې تېرېدې او بيا هغه ورځ هم راغله چې خدا ے پاک په پروين باندې د نارينه اولاد زيرے

اوکړو.پروین خوشحاله وه چې څه د خېره اوس خو به مې په زوي لړه اسره جوړه شي.د خېره سره زوے چې مې لوے شي نو لوے افسر به شي خو د پروین غریبي دومره قسمت چرته وه.کمال به نیا او نیکه اوچت کړځوو پروین ته به ئې نه ورکوو کمال د دغه نیازبینتوب د وجي د محلې د بدعمله هلکانو سره ملګرے شو.سبق ئې هم پرېښودو او نشې تماشې ئې شروع کړي.مور چې ئې پرې کله پوهه شوه نو سخر او خاوند ته ئې اووې چې ګوره دا هلک نشې تماشې کوي او د بدعمله هلکانو سره ګرځي لړ نظر پرې ساتئ خو ولې سخر ئې پروین په دې خبره الټه ملامته کړه چې دا ټول ستا د تربیت نتیجه ده.

په کمال چې به نشه سوره شوه نو په مور به ئې ګزارونه کول چې هله ماله پیسې راکړه پلار ئې هم بېروزګاره وو . او باقي څۀ جائداد وغیره د هغوي نۀ پروین ته چې به د کلي د خانانو د کورونه د جارو کولو او لوښې وینځلو باندي څۀ لږې ډېرې روپۍ مېلا وشوے نو هغۀ به ترې هم کمال واخستې او هم دغسې به ئې د ژوند ورځې شپې تېرولې.

ګل زاده نن په بازار کښې د امیرولي سره په څۀ خبره وران شو نو امیرولي وورته پېغور اوکړو چې بې غېرته تۀ زما سره ډغره وهے ښځه دې په پردي کورونو کښې ړېبړي.او تـۀ ماته خبرې کوې.

ګل زاده چې دا خبره واورېده نو نېغ کور ته راغے او په ورۀ باندې ئې د راننوتو سره اووې "پروین څۀ شوه؟"

پـروین د کـوهي پـه غـاړه ناسـته وه د کمـال جـامې ئـې وینځلې زر راپاڅېده او سلام ئې اوکړو.

لا ئـې سـلام پـه خولـه کښـې وۀ چې ګُل زاده پرې خولـه رابرخېره کړه.

چې "تۀ د خلقو په کورونو کښې کار ولـې کـوې؟، ماتـه نن په بازار کښې خلقو پېغورونـه راکړه.تـا خو زمـا نـوم بدنام کړو.تا خو زۀ په معاشره کښې د سترګو غړولو نه اوویستم،

بس ډېر صبر مې اوکړو خو خوند نۀ کوي نور په دې کور کښې ستا د پاره ځاے نشته،زۀ تا له طلاق درکوم، طلاق، طلاق، طلاق".

په پروین چې دغه د اسمان د تندر ګزار راپریوت نو سر پرې وګرځېدو او نیغه کوهي ته لاړه .

❦ ❦ ❦

# وراثت

زیشان او کامران، دواړه ورونه وو او په ماشومتوب کښې ئې د يو بل سره ډېره مينه وه. يو ځاے به ئې لوبې کولې خندل به ئې او د ژوند هره لحظه ئې ښه خوندوره تېروله.خو بيا دوي لوئې شول، د ژوند تجربه او پوهه ئې ترلاسه کړه او د دغې نه پس د يو بل د سر دښمنان شول. ما چې د دواړو نه د هغوي د دشمنۍ او د يو بل سره د اړي ګړي په اړه ببېل ببېل تپوس وکړو ، نو دواړو د خپل پلار د پاتې شوې زمکې په اړه په يو بل د خيانت تورونه لګول

❦ ❦ ❦

# عاق

شېرخان یو ساده او شریف سړی وو ، هغه خپل ټول عمر د سعودي عرب په تودو شګو کښې د بې رحمه کفیلانو سره په دې غرض تېر کړي وو ، چې خپله کورنۍ وساتي.د خپلو بچو ښه پالنه وکړي او ښه سبق پرې اووائې . کلونه ئې په دغه تکل کښې په سختو مزدورو او نه ستړي کېدونکو هڅو کښې تېر کړل، د دغه محنت د وجې ئې تر څۀ حده خپل خوبونه ریښتیا هم کړل.بچې ئې تعلیم یافته شوه او په کارونو هم بوخت شول، تر دې چې مشر زوي ته ئې د واده تاج هم په سر کړو. خو د ژوند بادونه تل د انسان په خوښه نه چلیږي. او کال پس د الله له خوا یو ازمېښت راغے او د هغه د ژوند ملګري ګُل رخ، چې د هغه د زړۀ ړنا وه، د دې فاني دنیا نه د همېشه د پاره سترګې پټې کړې.

د ګُل رخ مرګ د شېر خان خان په زړه یوه داسې تیاره خفګان او طوفان راوستو چې هر څۀ ئې وران ویجاړ کړل.اوس

به شېر خان خان یواځي ناست وو او تل به په سوچونو کښې
پروت وو .

خوېندو او بچو چې ئې شېر خان خان په غم او یوازیتوب کښې ډوب ولیدو نو خپلو کښې ئې صلاح وکړه چې شېر خان خان له بل واده وکړي.شېر خان راضي شو او د واده رسم د هغۀ په وېنا ډېر په سادګۍ سره تر سره شو.هر څۀ که د واده دغه پرېکړه د هغۀ د بچو او خوېندو روښو په خوښه وه، خو شېر خان خان ته هېڅ کله دا نه وه معلومه چې د هغه د بچو او خوېندو روښو په زړونو کښې بل څۀ پټ وو. او هغه ځکه چې د واده د ګلونو رنګ لا تازه وو چې د هغۀ د بچو په رویه او چلند کښې یو ناڅاپه بدلون راغے.د شېر خان خان بچو د مېرې مور سره جنګونه شروع کړه هر وخت به ئې تنګوله.مور ئې دغه هر څۀ په دې غرض برداشت کوله چې د کور ماحول ئې خراب نه شي خو د شېر خان خان بچو هم په ځان توکلي وو او بیا یوه ورځ داسې هم راغله چې د شېر خان خان بچې په غصه سره خپل پلار ته راغلل: "بابا تا ولې په دې کور کښې دوه کوټې نیولې دي، مونږ په یوه کوټه کښې ګزاره

کولې شو نو ته څنګه نه شې کولې؟" دا پوښتنه د شېرخان او دهغه د ښځې د پاره داسې وه لکه د ټوپک ډز.

د دغه ورځې نه پس د شېرخان او د هغه د کورودانې د پاره په خپل کور کښې ژوند حرام شو.د شېر خان خان اینګور او بچو نه غوښتل چې د هغې خوابنې / مېره مور دې په ارام وي.هر وخت به ئې ورسره جنګ جګړې کولې .

شېر خان چې د خپلو بچو دغه رویه ولیده نو حېرا ن شو ځکه چې هغه د بچو د تعلیم او روښانه سباوؤن د پاره خپل ټول ژوند قربان کړې وو مسافرۍ ئې کړې وې.هغه کوشش وکړو چې بچې پوهه کړې خو بچو د شېر خان خان خبره چرته منله.د شېر خان خان دکور په ورانې کښې د هغې د بچو د نافرمانۍ په شا د هغې خور ولاړه وه.شېر خان چې بچې او خوېندې رونړه راضې نه کړې شوه نو د کورنۍ شخړو جنګ جګړو او غمونو فکرونو او خفګانونو نه د خلاصون د پاره هغه پرېکړه وکړه چې د خپلې دویمې کورودانې سره سعودې

عرب ته لاړ شي—هغه ځاے چرته چې د هغه د ژوند لوئې مبارزې تېرې شوې وې.

سعودي عرب ته د راتلو نه پس شبر خان د سکون او اطمینان سا واخیسته ، دلته اوس د کور جنګ جګړې نه وې.او د څو کلونو د پاره ئې د خپلې مېرمنې سره د ارام او خوشحالۍ ژوند تېر کړو. خو ژوند تل داسې نه پاتې کېږي

COVID 19 وبا راغله او د شبرخان کمپني په خساره کښې شوه.د کمپنۍ نه بلها خلق اوېستلې شول.شبر خان هم په دغه بدنصیبو کښې شامل وو.اوس شبر خان خان بغېر د کار روزګاره په پردي وطن کښې ژوند کولو.چې څۀ ئې ګټلې وې او څۀ جمع کنجې ورسره وو اوس ئې ژوند په هغه پېسو تېرولو.دا ځل شبر خان خان په مالي ستونزو کښې راګېر شو.د پېسو ختمولو نه پس شبر خان خان په قرضونو شروع وکړه .

د کار نه بغېر سعودي کښې ژوند د هغه د پاره ګران شوې وو ځکه ئې خپل کاروبار شروع کړو خو کاروبار کښې هم کامیابه نه شو او د ناکامۍ تورې ورېځې ورته مخامخ شوې. اوس ورسره پیسې هم ختمې شوې وې ، بلها قرض دار ئې کړې وو ګټه نه وه او هره ورځ ئې د بلې ورځې نه خرابه وه ، د سعودي ژوند اوس د هغه لپاره د یو زندان په څېر وو خو بل خوا هغه ته د کلې حال هم معلوم وو.او هم دغه وجه وه چې هغه اوس هم په دې تکل کښې وو چې کار روزګار به ښه شي خو هر ځل داسې اونه شوه .

په دې سخت وختونو کښې، شېرخان ناروغه شوې وو. اوس ئې زړه هم د غمونو بار نه شو زغملې، او بدن ئې هم کمزورې شوې وو. خو د هغه مشر زوې، کمال، چې په سعودي عرب کښې وو او کار روزګار ئې هم ښه وو ، د پلار د حال نه هم خبر وو، خو د مرستې د پاره ئې پلار ته لاس نه غزولو.شبر خان چې د خپل زوي کمال دغه رویه ولېده نو زړه ئې نور هم مات شو .

د شبر خان خان او د ښځي اقامې ئې ختمې شوي وې.او اوس په سعودي کښې غېر قانوني مېشته وو ځکه ئې دا پرېکړه وکړه چې خپل وطن ته ستون شي او باقي ژوند په سکون تېر کړي . خو د وطن په لور سفر هغه ته د يو نوي راز لړۍ اوښودله.

کله چې شبرخان خپل وطن ته ورسېدو، نو د خپلو بچو سره د مخامخ کېدو نه ئې انکار وکړو خو د کورنۍ نورو غړو هغه په دې راضي کړو چې بچي وبخښي، ځکه چې د هغه د وينې برخه ده.

شبر خان په نه زړه د عزيزانو خبره ومنله، او د بچو سره ئې د يو ځاے اوسېدو پرېکړه وکړه.دوه درې هفتې هغو ټولو يو ځل بيا په ظاهري خوشحالۍ ژوند شروع کړو . خو بيا هغه ورځ هم راغله کله چې شبرخان د خپل قرضونو د خلاصولو د پاره د خپلې زمکې د خرڅولو اراده وکړه.دغه اراده څۀ وه چې بچو ئې مخه اونيوه او ورته ئې په سختۍ سره ووئيل چې ته هېڅ کله دا زمکه نه شې خرڅولې.خو شبر خان

خان دا ځل بل شان وو هغه ته د بچو رويه معلومه شويوه بل خوا په هغه د خلقو بلها قرضه هم پوري وو.دا ځل شېرخان د ژړا په ځاے د خپل ټول جائيداد د خرڅ پرېکړه وکړه اول ئې د سړک د غاړې زمکه خرڅه کړه ځکه چې د سړک زمکه قيمتيوه او د شېر خان خان خيال وو چې قرضونه به پرې ټول ختم شي . د شېر خان خان بچو ته چې پته ولګېده چې پلار ئې د سړک د غاړې زمکه خرڅه کړه او پاتې ټول جائيداد هم خرڅوي نو ډېر غصه شول. په کمال خو سر تاؤ شو بلهٔ پرېشر ئې سېوا شو او د سختې نه په زمکه رااوغرځېدو.د کشر ورور سره په جنګ شو چې دا ټول هر څهٔ ستا د وجې نه داسې شو.دواړه په خبرو کښېې دومره لرې لاړه چې د يو بل پسې ئې ګوابنونه هم وکړه

کمال او عبېد په يو بل تورونه هم ولګول چې د پلار سره ټوله لانجه د چا د وجې جوړه شويوه.خو د بدبختۍ اندازه ئې د دې نه لګېده چې د پوهيدو باوجود ئې د مېرنۍ مور د وجې د پلار سره اوس هم ورانه ده .

د کمال او عبېد ترورو چې د ورېرنودا حالت ولیدو نو د کورنۍ مشران ئې راوغوښتل، او د شېر خان خان د راضي کولو هڅه ئې وکړه چې شېر خان خان د جائیداد د خرڅ نه منع کړي خو شېر خان خان له د ژوند دغه طوفانونو زړه مات کړي وو، اوس هغه په خپلې ارادې کلک ولاړ وو. هغه جرګې ته د یو سوړ اسوېلي نه پس په غمجن اواز کښې اوویل: "ما خپل ټول عمر د بچو د روښانه سباوون د پاره قربان کړو خو زما بچو ما ته د هغې په بدل کښې خفګانونه راکړي دي . اوس به زۀ دا زمکه خامخا خرڅوم، قرضونه به خلاصوم، او د خپل ژوند وروستۍ سا ګاني به په سکون اخلم".

د جرګې غړو او بچو د شېر خان خان خبرې واورېدې، خو د شېر خان خان د بچو په زړونو کښې د خپلې ګټې او خودغرضۍ اور اوس هم بل وو. مشر زوي کمال، چې د پلار د کمزورۍ او ناروغۍ نه خبر وو، په غصه شو او په لوړ آواز ئې وویل: "بابا! دا زمکه زمونږ حق دي، ته ئې نه شې خرڅولې. که دا وکړې، نو بیا به مونږ ستا سره هېڅ تعلق نه ساتو!" دغه خبرې د شېر خان خان په زړه یو ځل بیا د یو تېز خنجر په څېر

ولګېدي. هغه د خپل زوي سترګو ته وکتل، خو هلته ئې د
مینې او احترام په ځاے د خودغرضۍ او غرور انځور ولیدو
.

شبر خان په خاموشۍ سره ودرېدو د جرګې د مېنځه
راووتو ، او د خپل کلي غر ته یوازې روان شو. د هغه زړه نور
د ژوند بار نه شو زغملې.

ماښامے وو ، بادونه چلېدل، په اسمان توره وریځ
خوره وه. شبر خان د یوې لوړې ډېرې په سر ودرېدو،
سترګې ئې د خپل کلي په کورونو ولګېدې، چې یو وخت د
هغه د خوبونو او ارمانونو ځاے وو. هغه په ژور سوچونو
کښې ډوب شو، ناڅاپه زل زول شو ځاځکي راښکې شوه
سخت طوفان راغے . په اسمان کښې برېښنا سره سره د تندر
اوازونه هم شروع شوه.شبر خان په سوچونو کښې کور ته د
تګ د پاره راپاڅېدو خو ښپه ئې اوخوېده او راوغورځېده. په
لاره تلونکي کسانو چې شبر خان په دغه حالت کښې
ولیدو نو هسپتال ته ئې بوتلو.شبر خان په هسپتال کښې
داخل شو خو دلته ورله هم بچي رانغله.د هسپتال نه چې

فارغه شو نو شبیر خان نېغ عدالت ته روان شو نافرمانه زامن کمال او عبېد ئې عاق کړه او خپل ټول جائیداد ئې د خپلې ښځې په نوم کړو.ځوک چې په دغه سختو حالاتو کښې هم د هغه سره ولاړه وه .

# د لیکوال نور چاپ او ناچاپ اثار

چاپ شعري اثار:

1. شور مې د قلم په ژبه راوله (شعري ټولګه ۲۰۰۸ء)
2. د رڼا رنګونه (شعري ټولګه ۲۰۲۲ء)
3. فکر مې سندره شوه (شعري ټولګه ۲۰۲۳ء)
4. د ېوالونو ته لګیا یم (شعري ټولګه ۲۰۲۴ء)

چاپ نثري اثار:

1. د معزورۍ په اړه د ماشومانو کتاب (ژباړه) (نثري ټولګه ۲۰۲۴ء)
2. پردے حق

ناچاپ شعري و نثري اثار:

1. څه یوه قصه خو نهٔ ده (د هائیکو ټولګه)

2. زۀ ورله کردار ته ائینه نیسم (شعري مجموعه)
3. هوا پېژندنه (د موسمیاتو په اړۀ نثري مجموعه)
4. زما د ژوند قصه (بې نومه) (ژوند لیک)
5. د ناکامۍ په اړه (د ماشومانو کتاب) (ژباړه)

## د مصنف چاپ آثار






## اداریه

ژبه د یو قام د ژوند د کړه وړه، دود دستور، کلتور او ثقافت د معنوي انعکاس یوه سپېځلې ائینه وي او ادب د هغې ژبې لپاره د لفظیت، معنویت او مقصدیت د شرحې یوه کوتلې او جامع تګلاره ده. "ادب پال ملګري خیبر پښتونخوا (پاکستان)" د پښتو ژبې او پښتو ادب د روزنې او پالنې لپاره یوه ډلګی، یو ټولګے یا یو تنظیم نه بلکې یو منظم تحریک دے چې د مورنۍ ژبې په بې بدله او بې غرضه خدمت پوخ باور او یقین لري. د پښتو ادب د ترویج، اشاعت او طباعت لپاره د نړۍ د هرې سیمې د مېشته پښتون وګړي نه هم په کلکه پښتنه مینه دا غوښتنه کوي چې را پاځئ! او د خپلې مورنۍ ژبې سره پښتو وکړئ، پښتو ولولوئ، پښتو ولیکئ او پښتو د نړیوالې سیالۍ په ژغل کښې تر خپل مرامه ورسوئ. ادب پال ملګري خیبر پښتونخوا (پاکستان)


امن خپرندویه ټولنه چارسده
amanpublication1@gmail.com
0300-9150568/0346-9306494
0333-3304585